بسم الله الرحمن الرحيم

د بحښونکی ډیر مهربان خدای په نامه

قَالَ اللهُ تَعَالی:

﴿إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِ

وَيُطَهِّرَكُمۡ تَطۡهِيرًا﴾

سوره الأحزاب: ۳۳

پاک الله فرمايي:

"بيشکه الله تعالی غواړي چې اې د (رسول) اهلبيتو ﷺ له تا سو نه دې هر قسمه پليتي لرې وساتي او تاسو داسې پاک او صاف کړي لکه څنګه چې د پاکۍ حق دے."

# مُتعه په اسلام کښې

قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ:

«إني تاركٌ فيكُمُ الثَقلين: كتاب الله، وعترتي أهلَ بيتي، ما إن تمسكتُم بهما لن تضلوا أبداً وأنَّهُما لَن يَفترقا حتّى يردا عَليَّ الحوضَ».

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وفرمايل:

زۀ تاسو تـه دوه درانـه او ارزښـتناک څیزونـه پريـږدم: يـو د خدا ے کتاب (قران) او بل زما اهلبيت، که چيرې پـه دې دوو مـو منګولې ولګولې نو هيڅ کله به له ما وروسته بې لارې نه شئ، او دا دوه بـه يو له بله جدا کيږي نـه تـر دې چې د حوض (کوثر) پـه غـاړه مـا تـه راورسيږي.

(صحيح مسلم، ۷ ټوک، ۱۲۲ مخ، سنن دارمي، ۲ ټوک، ۴۳۲ مخ، مسند احمد، ۳ ټوک، ۱۴، ۱۷، ۲۶او ۵۹ مخونه، ۴ ټوک، ۳۶۶ او ۳۷۱ مخونه، ۵ ټوک، ۱۸۲ مخ، مستدرک حاکم، ۳ ټوک، ۱۰۹، ۱۴۸ او ۵۳۳ مخونه، او داسې نور کتابونه....)

# مُتعه په اسلام کښې

ليکوال:
علامه سيد مرتضیٰ عسکري

مترجم:
سرفراز علي مهدي

د اهل بيتو نړيواله ټولنه

نام کتاب: علی مائدة الکتاب والسنة جلد۹ ؛ النکاح الموقت فی الاسلام

نویسنده: سید مرتضیٰ عسکري

تهیه کننده: مجمع جهانی اهل بیت علیهم السلام - اداره ترجمه

مترجم: سرفراز علي مهدي

زبان ترجمه: پشتو

**د کتاب نوم:**

مُتعه په اسلام کښې

ليکوال: علامه سيد مرتضیٰ عسکري
تياروونکې: د اهل بيتو د نړيوالې ټولنې د ژباړې څانګه
ژباړه او کمپوز: سرفراز علي ايم اے عربي
تصحيح: انور شاهين خانخېل
وروستۍ کتنه: ډاکټر عبدالرحيم دراني
صفحه بندي: فاطمه ګلزار

چاپ نېټه: ۱٤۳۷هـ ق (بمطابق ۲۰۱٦م)
دچاپ وار: وړومبی
شمېر: ۲۰۰۰
چاپ خانه: اسراء
خپروونکې: د اهلبېتو نړيواله ټولنه
ISBN: ۹۷۸-۹٦٤-۵۲۹-۰

www.ahl-ul-bayt.org

info@ahl-ul-bayt

# لړلیک


**متعه په اسلام کښې◁ ۱۱**

۱- مُتعه نساء یا د لنډې مودې نکاح د خلفاؤ په سرچینو کښې◁ ۱۲

۲- متعه په امامیه فقه او شیعه مذهب کښې◁ ۱۷

۳- متعه په قران شریف کښې◁ ۱۸

۴- متعه په سنتو کښې◁ ۲۸

۵- د خپل خلافت په ورستیوکښې، د عمر لخوا د متعې د مخنیوي علت◁ ۳۴

۶- متعه د دویم خلیفه له خلافته وروسته◁ ۵۳

۷- هغه کسان چې عمر نه پس یې د متعې په حلالوالي تاکید کوۀ◁ ۵۹

۸- د متعې په حرام والي کښې د دویم خلیفه پېروکار او د هغوي اختلافات◁ ۶۱

۹- په ورست وختونو کښې د متعې په حقله د خلفاؤ د مکتب د پېروکارو په موقف کښې بدلون◁ ۷۴

۱۰- د دې حدیثونو علتونه او اشکالات◁ ۱۰۱

۱۱- د متعې د حکم، څو ځله نسخ کېدنه◁ ۱۱۵

## متعه په اسلام کښې

په متواتره توګه له عمر بن خطاب نه نقل شوي دي چې هغهٔ ویلي دي چې:

«مُتْعَتانِ کانَتا علیٰ عَهدِ رَسول اللّه و أنَا أَنهی عَنْهُما و أُعاقِبُ عَلیهما: مُتْعةُ الحجِّ و مُتعةُ النِّساء».

«د پېغمبراکرمﷺ په زمانه کښې دوه ډوله متعې روا وې چې زهٔ اوس مهال هغه دواړه منعې کوَم او تر سره کوونکي ته به یې سزا ورکوم: یوه متعه حج او بله متعة النساء».[1]

د «متعه حج» بحث مو مخکې په خپل معالم المدرستین کتاب کښې بیان کړ او له هغې د منعې کولو په حقله د دویم

---

۱. تفسیر قرطبي، ټوک۲، مخ۳۷۰؛ تفسیر فخر رازي، ټوک۲، مخونه ۱۲۷، ۲۰۱ او ۲۰۲؛ کنزالعمال، ټوک۸، مخ۲۹۳ او ۲۹۴. البیان و التبیین جاحظ، ټوک۲، مخ۲۲۳.

خلیفه د اجتهاد څرنګوالې هم بیان شو خو دلته مونږ د «متعه نساء» دبحث په حقله او د دویم خلیفه لخوا د دې د منعې کولو علتونه څیړوو او په دې حقله د هغهٔ د اجتهاد څرنګوالې بیانوو.

## ۱- مُتعه نساء یا د لنډې مودې نکاح د خلفاؤ په سرچینو کښې

په تفسیر قرطبي کښې وائي: «د تېرې زمانې او اوسنۍ زمانې دیني عالمان په دې خبرې یو نظر او اتفاق لري چې متعه یعنې د لږې مودې نکاح او وادهٔ دے چې پکښې له یو بل نه ارث نیشته او بیلتون او جدائي یې بې له طلاقه حاصلیږي او د ټاکل شوي وخت په ختمېدو سره دا وادهٔ او نکاح خپله ختمیږي.»

ابن عطیّه وائي: «متعه [عارضي نکاح] دې ته وائي چې سړے له یوې ښځې سره د دوو ګواهانو په موجودګۍ او د ښځې د مشر او سرپرست په اجازې سره تر ټاکلې شوي مودې پورې وادهٔ وکړي په دې شرط سره چې له یو بله به ارث نهٔ وړي او سړے به هم هغه مَهر چې دواړو ټاکلے دے

ښځې ته ورکوي. او چې کله دغه معين وخت ختم شي نو بس نور په ښځې باندې د سړي څه حق نيشته مگر دا چې د مياشتنۍ بيمارۍ (حېض) ليدو او پاکېدو پورې عدت وساتي(يعني بل چا سره وادۀ (که هغه متعه وي او که دائمي نکاح) ونۀ کړي) ـ ځکه چې که چرې بچے يې وشو نو د دې دواړو بچے به حسابيږي، نو بس د عدت له ختمېدو وروسته چې د نۀ اميدوارۍ يقين ورته حاصل شي، بل کس سره دائمي يا وقتي وادۀ کولې شي».[۱]

په صحيح بخاري کښې له رسول الله ﷺ روايت شوے دے چې فرمائي:

«أيُّما رَجلٍ و إمْرَأة تَوافقا فَعِشْرَةُ ما بَينهما ثَلاثَ لَيالٍ، فَإنْ أحبّا أن يَتَزايدا أو يَتَتارَكا».

که يوسړے او ښځه د مُتعې لپاره يو بل سره موافقې ته ورسيدل نو د هغوي لړ شان گډ ژوند به دوه درې شپې دوام

۱. تفسير قرطبي، ټوک۵، مخ۱۳۲.

ولړي پس له دې که خوښه يې وي نو څو ورځې دې نورې هم ورزياتې کړي، او که نه نو له يو بل جدا کيږي.[1]

په مصنّف ابن ابی‌شيبه کښې له جابر بن عبدالله انصاري څخه روايت شوے د ے چې وې ويل: «کله هم چې ټاکل شوے او مقرره وخت ختم شي او غواړي چې بيا متعه وکړي نو پکار دي چې ښځې ته بل مهر هم ورکړي».

له هغهٔ يې پوښتنه وکړه: «د مُتعې د وخت له ختميدو نه پس د ښځې عدت څومره د ے؟» ځواب يې ورکړ: «د يو حيض [مياشتيز عادت] هومره، چې بايد د خپل خاوند لپاره وساتي».[2]

په تفسير قرطبی کښې له ابن عباس څخه روايت کيږي چې وې ويل: «د ښځې عدت د يو حيض [مياشتنے عادت] برابر

---

۱. صحيح بخاري، ټوک۳، مخ۱۲۴، باب نهی رسول اللّه ﷺ عن نکاح المتعة اخيرا.

۲. المصنف، عبدالرزاق، ټوک۷، مخ۴۹۹، باب المتعة.

دے او همدغه راز بې وويل چې د يو بل وارث هم نۀ جوړيږي».[۱]

په تفسير طبري کښې له سدي،دا ايت داسې نقلوي چې: ﴿فَمَا ٱسْتَمْتَعْتُم بِهِۦ مِنْهُنَّ- إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى - فَـَٔاتُوهُنَّ...﴾

وائي: «دا متعه داسې ده چې ښځه او سړے يوې معينې مودې لپاره د دوو ګواهانو په شتون او د سرپرست په اجازې سره له يو بل سره وادۀ کوي او کله چې دا موده ختمه شي نو د سړي په ښځې باندې هيڅ حق پاتے نه دے او ښځه ازاده ده، خو يوازې دا چې خپل رحم او خېټه پاکه کړي (عدت تېر کړي) او د يو بل وارث هم نۀ جوړيږي».[۲]

زمخشري په تفسير کشاف کښې وائي: ويل شوي دي چې: «دا آيت: ﴿فَمَا ٱسْتَمْتَعْتُم بِهِۦ مِنْهُنَّ...﴾ د درې ورځنۍ

---

۱. تفسير قرطبي، ټوک۵، مخ۱۳۲؛ تفسير نيشاپوري، ټوک۵، مخ۱۷.
۲. تفسير طبري، ټوک۵، مخ۹.

متعې په حقله نازل شوے دے او د دې ایت حکم تر هغه وخت پورې باقي ؤ چې کله مکه د رسول الله ﷺ په لاس فتح شوه او پس له دې هغه «نسخ» شو، او هغه قیصه داسې وه چې سړي به د یو ټاکلي شوي وخت پورې یوه شپه، دوه شپې او یا یوه هفته د مهر په ورکولو سره له ښځې سره وادهٔ کوهٔ او له هغې به یې خوند او استمتاع اخېسته او بیا به یې هغه ازادوله ځکه یې ورته نوم هم «مُتعه» یعني [خوند اخېستل] ورکړے دے چې سړے له ښځې څخه خوند اخلي او ښځه له سړي څخه له خوند اخېستو سره سره «مهر» هم اخلي».[1]

څه چې تېر شول د خلفاؤ په مکتب او سرچینو کښې د «متعه» یا «د لږې مودې نکاح» تعریف ؤ. په « امامیه فقه» کښې د متعې تعریف داسې دے:

---

۱. تفسیر کشاف، ټوک۱، مخ۵۱۹.

## ۲- متعه په امامیه فقه او شیعه مذهب کښې

متعه نساء دې ته وائي چې ښځه په خپله او یا د یو وکیل په وسیله د څه مودې لپاره په معلوم مهر سره له یو هغه سړي سره عارضي وادهٔ وکړي چې له کوم سړي سره دائمي وادهٔ حرام نهٔ وي لکه د نسبي خپلوانو یې نه وي (لکه خور وغیره....) سببي خپلوانو لکه چې له کومې ښځې سره سړے وادهٔ وکړي نو هغې ښځې له خور سره بیا په یو وخت وادهٔ نهٔ شي کولې چې دواړه خوېندې یې په یو وخت مېرمنې وي) او د شودو (پیو) د ورکولو په سبب یې نزدې خپلوان وي لکه (د شودو (رضاعي) خور) یا په عدت کښې وي او یا یې بل خاوند او مېړهٔ وي - او کله چې هم دا معلوم وخت ختم شي یا دا چې وخت یې نهٔ وي ختم شوے خو خاوند دغې ښځې ته نور وخت وبخښي چې څه تهٔ ازاده یې نو هغه ازادېږي. او جدا کېږي، که چرې دخول او کوروالے په حقیقي معنا کښې شوے وي نو ښځه باید دوه ځله د حیض بیماري ووینې نو هله یې عدت ختمېږي او که زړه او بوډۍ وي چې بیماري یې نه راځي خو یایسه (شنډه) هم نه وي (له

شپیتو کلونو هم کمه وي) نو بیا پکار دي پینځه څلویښت ورځې صبر وکړي او عدت وساتي خو که بالکل دخول یې نه وي کړے نو بیا د هغې طلاقې ښځې په شان ده چې پکې دخول نۀ وي شوے یعني څه عدت نۀ لري او په هم هغې ورځ هم بل عارضي یا دائمي وادۀ کولې شي.

که په متعه کښې د چا بچي پیدا شي نو د دائمي وادۀ د بچیانو په شان شرعي حکم لري.[1]

## ۳- متعه په قران شریف کښې

پاک الله په قران پاک کښې فرمائي:

---

۱. مراجعه وکړئ: د شیعه فقیهانو د احکامو او شرعي مسائلو کتابونه او همدار رنګ، د متعي نکاح احکام په فقه استدلالي کتابونو کښې لکه: شرح لمعه، شرایع الاسلام وغیره...

﴿فَمَا ٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِهِۦ مِنۡهُنَّ فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةٗۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ فِيمَا تَرَٰضَيۡتُم بِهِۦ مِنۢ بَعۡدِ ٱلۡفَرِيضَةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا ﴾

"نو هر کله چې مو له ښځو سره متعه (خوند ترې اخلئ) وکړه نو مقرر شوے مهر ورته ورکړئ او که د مقرر شوي مهر نه پس په بل څه راضي شوئ نو تاسو ته څه ګناه نيشته بيشکه چې خدا ے ښه عالم او ډېر حکمت والا دے."

د دې ايت تفسير د خلفاؤ په مذهب کښې

۱- عبد الرزاق په خپل مصنّف کښې له عطا روايت کوي چې وې ويل: «ابن عباس دا ايت داسې تلاوت او تفسير کړے دے: ﴿فَمَا ٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِهِۦ مِنۡهُنَّ- إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى - فَـَٔاتُوهُنَّ...﴾

او هغو ښځو ته چې تر معلومې مودې پورې مو ترې خوند واخیست واجب مهر ورکړئ.»[۱]

۲- په تفسیر طبري کښې له حبیب بن ابی‌ثابت روایت دے چې وي ویل چې: «ابن عباس ما ته یو «مُصْحَف» راکړ او وې ویل چې دا قران د اُبیّ د قرائت او تفسیر په بنیاد دے وائي چې د دې ایت تفسیر په هغه مصحف کښې داسې ؤ: ﴿فَمَا ٱسْتَمْتَعْتُم بِهِۦ مِنْهُنَّ- إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى -...﴾؛ او هغو

۱. المصنف، ټوک۷، مخونه ۱۴۹۷او ۴۹۸، باب المتعه، لیکوال: عبدالرزاق بن همام صنعاني، زوکړه ۱۲۶ او وفات ۲۱۱ هجري کال، د بیروت د مجمع علمی خپرندویه موسسه، چې په شمسي کالونو ۱۳۹۰او۱۳۹۲ کښې چاپ شوے دے. د هغه حدیثونه د صحاح سته په ټولو کتابونو کښې نقل شوي دي او د هغهٔ ژوند لیک یې په: الجمع بین رجال الصحیحین، تقریب التهذیب او بدایة المجتهد، ټوک۲، مخ۲۳ کې ذکر کړے دے.

ښځو ته چې تر معلوم وخته پورې مو ترې خوندونه واخېستئ....»[۱]

۳- او هم دا رنګ، په تفسير طبري کښې له ابی‌نضرة نه په دوو سندونو سره نقل شوي دي چې وې ويل:

«له ابن عباس څخه مو د «متعه نساء» په حقله پوښتنه وکړه نو هغهٔ وويل: مګر په سورهٔ نساءکښې دې نهٔ دي ليدلي؟ومې ويل ولې نه؟ وې ويل: ايا د ﴿فَمَا ٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِهِۦ مِنۡهُنَّ- إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمًّى -...﴾ ـ ايت تلاوت دې نه دے کړے؟ ومې ويل که هغه مې دا ډول چې تا راته ووئ اوريدلے وې نو له تا نه به مې پوښتنه نهٔ کوله وې ويل لکه څنګه چې مې ووايهٔ هماغه شان دے.»

۴- او همدا رنګ له ابي‌نضره روايت کوي چې وې ويل: «دا ايت مې دابن عباس په مخکې تلاوت کړ ﴿ فَمَا ٱسۡتَمۡتَعۡتُم

۱. تفسير طبري، ټوک۵، مخ۹.

بِهِۦ مِنۡهُنَّ ﴾ نو ابن عباس وویل ـ الیٰ أجل مسمیٰ ـ یوې ټاکلې شوې مودې لپاره»

وائي: «ورته مې وویل چې ما دا ایت داسې نه ؤ لوستلے او نۀ یم خبر وې ویل: په خدا ے قسم چې الله پاک دا ایت همداسې نازل کړے دے او دا خبره یې درې ځلې تکرار کړه.»

د روایت وضاحت او توضیح

د ابن عباس دا خبره چې وې ویل: «دا ډول نازل شوے دے»: یعنی له دې ایت نه د خدا ے تعالیٰ مراد د دې معنا او د «متعه نساء» حکم بیانول دي. هو په قران کښې دا جمله «الی اجل مسمی» نه ده راغلې خو خدا ے پاک خپلې غېر قراني وحی سره خپل رسولﷺ، له دې حُکمه خبر کړے دے او هغه حضرت دا خپل اصحابو ته هم بیان کړے دے او ځینو کسانو لکه ابی بن کعب او ابن عباس په خپلو مصحفونو کښې د دې ایت په ذیل کښې لیکلے او د دې راوي په شان نورو کسانو ته یې هم بیان کړے او وربانديې یې تاکید کړے دے.

۵- له عمیر او ابی‌اسحاق نه روایت کوي چې وائې ابن عباس دا ایت داسې تلاوت او تفسیر کړے دے: ﴿فَمَا ٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِهِۦ مِنۡهُنَّ- إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى - فَـَٔاتُوهُنَّ...﴾؛ او د هغو ښځو لپاره چې تر معین شوي او معلوم وخته پورې...»

۶- له مجاهد نه روایت کوي چې وې ویل: ﴿فَمَا ٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِهِۦ مِنۡهُنَّ﴾ یعنی د متعې نکاح [د لنډې مودې وادۀ].

۷- له عمرو بن مرّة څخه روایت شوے دے چې هغۀ له سعید بن جبیر اوریدلي دي چې هغۀ د دې ایت تلاوت او تفسیر داسې کوۀ: ﴿فَمَا ٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِهِۦ مِنۡهُنَّ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى -...﴾

۸- قتاده وائي: د ایت تلاوت او تفسیر د ابیّ بن کعب په نزد دا ډول دے: ﴿فَمَا ٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِهِۦ مِنۡهُنَّ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى-...﴾

۹- له شعبه بن حکم روایت نقلوي چې وې ویل: پوښتنه مې وکړه چې ایا دا ایت منسوخ شوے دے که نه؟ وې ویل: نه.[۱]

۱۰- د جصّاص په احکام القرآن کتاب کښې هم د ابی‌نضره او ابی‌ثابت روایت له ابن عباس او د ابیّ بن کعب قرائت راغلے دے.[۲]

۱۱- بیهقی په خپل کتاب سنن کبرا کښې له محمد بن کعب روایت کوي چې ابن عباس وویل: «متعه [عارضي نکاح ]» د اسلام له وړومبیو وختونو راهسې رائجه وه او مسلمانانو دا ایت په دې ډول قرائت او تفسیر کوۀ: ﴿فَمَا ٱسْتَمْتَعْتُم بِهِۦ مِنْهُنَّ- إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى -...﴾[۳]

---

۱. د تفسیر قرطبي له [۲ تر ۹] روایتونو پورې دې چې پکښې ځینې مو خلاصه کړل.
۲. احکام القرآن، ټوک۲، مخ۱۴۷.
۳. سنن بیهقی، ټوک۷، مخ۲۰۵.

۱۲- نووي په صحیح مسلم باندې په لیکلې شرحه کښې وائي: د دې ایت قرائت او تفسیر د ابن مسعود ه نزد داسې دے: ﴿فَمَا ٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِهِۦ مِنۡهُنَّ- إِلَىٰٓ أَجَلٍ...﴾[1]

۱۳- زمخشري په خپل تفسیر کښې وائي: له ابن عباس نه روایت شوے دے چې وې ویل: «دا ایت له محکمو ایتونو څخه دے.» یعنی حکم یې نسخ شوے نهٔ دے او هغه به په خپله تل د ایت قرائت او تفسیر داسې کوۀ: ﴿فَمَا ٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِهِۦ مِنۡهُنَّ- إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى -...﴾.[2]

۱۴- قرطبي وائي: اکثر عالمان وائي له دې ایت نه مراد د متعې نکاح ده چې د اسلام په وړومبیو وختونو کښې هم ابن عباس او ابی بن کعب او ابن جبیر د ایت قرائت او تفسیر داسې کړے دے: ﴿فَمَا ٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِهِۦ مِنۡهُنَّ- إِلَىٰٓ

---

۱. په صحیح مسلم د نووي شرح، ټوک۹، مخ۱۷۹.
۲. تفسیر کشاف زمخشري، ټوک۱، مخ۵۱۹.

أَجَلٍ مُّسَمًّى - فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ ﴾؛ «او د هغو ښځو لپاره ـ چې تر معينې مودې پورې مو ورسره عقد او نکاح کړې ده او ترې مو خوند اخيستے دے هغو ته خامخا مهر ورکړئ. »[۱]

**۱۵**- په تفسير ابن اثير کښې راغلي دي چې ابن عباس او ابی بن کعب او سعيد بن جبير او سدي به د دې ايت قرائت او تفسير داسې کوۀ: ﴿فَمَا ٱسْتَمْتَعْتُم بِهِۦ مِنْهُنَّ- إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى - فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً﴾[۲]

**۱۲**- په تفسير سيوطي کښې هم، د ابی‌ثابت او ابی‌نضره او د قتادة او سعيد بن جبير په روايتونو کښې د ابي بن کعب قرائت او تفسير او د مجاهد او سدي او عطا له ابن عباس او د حديث حکم چې وائي: آيت نسخ شوے نۀ دے او له ابن عباس نه د عطا روايت چې وائي د متعې د حلالوالي حکم

---

۱. تفسير قرطبی، ټوک**۵**، مخ۱۳۰.
۲. تفسير قرطبی، ټوک**۵**، مخ۱۳۰.

د سورۀ نساء په ﴿فَمَا ٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِهِۦ﴾ ایت کښې دے چې فرمائي: له کومو ښځو سره چې مو تر ټاکل شوي وخت او مودې پورې عقد او متعه وتړله او خوند مو ترې واخېست نو مقرر شوے مهر هغوي ته ورکړئ.» او دا چې وائي: «دا دوه له یو بله ارث نه وړي او که زړونو یې وغوښتل نو د وخت د ختمېدو وروسته هم بیا متعه جاري وساتي نو ډېره به ښه وي او که له یو بله جدا شول نو دا هم ښه خبره ده..»[1]
دغه ټول حدیثونه او تفسیرونه د سیوطي په تفسیر کښې راغلي دي.
لیکوال وائي: دې ټولو مفسرانو او هم داسې نورو هم، زمونږ په شان د دې آیت په تفسیر کښې راوړي دي او لکه څنګه چې مو ولیدل چې ابن عباس، ابی بن کعب، سعید بن

۱. تفسیر سیوطي، ټوک۲، مخونه ۱۴۰ـ ۱۴۱. او د عطا روایت په مصنف عبدالرزاق، ټوک۷، مخ۴۹۷ او بدایة المجتهد ابن رشد، ټوک۲، مخ۲۳.

جبیر، مجاهد او قتاده او داسې نورو[۱] چې له دوي يې روايت کړے دے هغو ټولو دا ايت په دا ډول قرائت او تفسير کړے دے: فما استمتعم به منهن ـ الی اجل مسمی ـ... يعنی: ـ مثلاً ـ ابی بن کعب چې تفسير يې داسې کړے دے،د هغۀ مراد هم دا ؤ چې دا تفسير يې له رسول خداﷺ اوريدلے دے او کله چې پېغمبراکرمﷺ فرمايلي دي چې: «الی اجل مسمی؛ تر معين او معلوم وخت پورې» يعني په دې جملې سره يې د ايت تفسير بيان کړے دے.

**۴- متعه په سنتو کښې**

الف- د صحيح مسلم، صحيح بخاري، مصنّف عبد الرزاق، مصنّف ابن ابی‌شيبه، مسند احمدبن حنبل، سنن بيهقی او نورو کسانو په «نکاح المتعة» کښې له عبدالله بن مسعوده

---

۱. لکه: قاضي ابو بکر اندلسي [وفات ۵۴۲] په احکام القرآن، ټوک۱، مخ۱۲۳؛ بغوي شافعي [وفات ۵۱۰ یا۵۱۲] په خپل تفسيرخازن، ټوک۱، مخ۴۲۳ کښې. الوسي [وفات ۱۲۷۹] په خپل تفسير، ټوک۵، مخ۵کښې.

روایت کړے دے چې وې ویل: مونږ رسول اللهﷺ سره په جنګ کښې بوخت وو او ښځې مو نه وې ومو ویل: ښه به نه وي چې ځانونه خسي کړو(وټکوو) ؟ پېغمبر اکرمﷺ مونږ له دې کاره منعې کړو بیا یې مونږ ته اجازه راکړه چې د مَهر په ورکولو سره (لکه جامې یا د هغه په شان نور څه) ښځو سره متعه یعنې د لنډې مودې وادهٔ وکړو او عبدالله بیا دا ایت تلاوت کړ چې:﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحَرِّمُواْ طَيِّبَـٰتِ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكُمۡ وَلَا تَعۡتَدُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ﴾[1] "اے هغو کسانو چې ایمان مو راوړے دے هغه پاک څیزونه چې خدا‌ے په تاسو حلال کړي دي په ځان مه حراموئ او (له حده) مه تېرېږئ (ځکه) چې خدا‌ے له حده تېریدونکي نه خوښوي.."[2]

---

۱. سوره مائده: ۸۷.

۲. صحیح مسلم، کتاب نکاح، حدیث ۱۴۰۴، مخ۱۰۲۲، په څو سندونو سره؛ صحیح بخاري، ټوک۳، مخ۸۵، د تفسیر سوره مائده، باب ۹ او کتاب نکاح، ټوک۳، مخ۱۵۹، باب (ما یکره

ب- په صحيح بخاري، صحيح مسلم او مصنف د عبدالرزاق له جابر بن عبدالله او مسلمه بن اکوع څخه روايت کوي چې ويلي يې دي: «د پېغمبراکرم منادي ﷺ [وياند] مونږ ته راغے او وې ويل: «پېغمبراکرم ﷺ تاسو ته اجازه درکړه چې له ښځو سره متعه يعنې لنډې مودې واده وکړئ».»[1]

من التبتل)، په عبارت کښې لږ شان اختلاف شته؛ مصنف د عبدالرزاق، ټوک۷، مخ۵۰۲، دې حديث عبارت لږ شان زيات دے د حديث تر آخره پورې؛ مصنف د ابن ابی‌شيبة، ټوک۴، مخ۲۹۴؛ مسند احمدبن حنبل، ټوک۱، مخ۴۲۰ او د هغه په حاشيه کښې وائي: ابن مسعود په دې حکم عمل کوۀ او متعه يې حلاله ګڼله، او په ۴۳۲ مخکښې يې خلاصه ده؛ سنن بيهقی، ټوک۷، مخونه ۲۰۰-۲۰۱؛ تفسير ابن کثير، ټوک۲، مخ۸۷.

۱. صحيح مسلم، مخ۱۰۲۲، حديث ۱۴۰۵. صحيح بخاري، ټوک۳، مخ۱۲۴، «باب نهي رسول اللهﷺ عن نكاح المتعة آخرا.» د بخاري په عبارت کښې داسې راغلي چې وائي: «مونږ په يو لښکر کښې وو چې د پېغمبراکرمﷺ رااليږلې کس مونږ ته وويل چې......» د مسند احمد بن حنبل، ټوک۴، مخ۵۱ عبارت

ج- په صحیح مسلم، مسند احمد او سنن بیهقي کښې له سبره جهني روایت کیږي چې وې ویل:

«رسول الله ﷺ مونږ ته د مُتعې [عارضي نکاح] اجازه راکړه. زۀ او یو بل کس د بني عامر د قبیلې یوې ښځې غوښتنې ته ورغلو یوې مضبوطې او غټې ښځې پوښتنه وکړه چې مهر به څه راکوئ؟ ما ورته وویل: څادر در کوم او زما ملګري هم ورته وویل: خپل څادر درکوم زما ملګري څادر زما له څادره ښهٔ خو زۀ په عمر کښې له هغه ځوان وُم کله چې ښځې هغه څادر ولیدهٔ نو هغه یې خوښ شو خو چې کله یې ما ته وکتل نو زۀ یې هم خوښ شوم او وې ویل: تهٔ او ستا څادر راله کافي دے نو هغې سره مې د متعه نکاح وتړله او درې ورځې هغې سره وُم چې پیغمبراکرمﷺ

---

هم، همداسې دے چې د هغه لنډیز هم؛په ۴۷ مخکښې راغلےدے؛ مصنف د عبدالرزاق، ټوک۵، مخ۴۹۸، په لږ شان اختلاف سره.

وفرمایل: «چا چې دغو ښځو سره متعه کړې وي نو هغوي دې د مودې له ختمېدو نه پس ازادې پرېږدي.»[۱]

د- په مسند طیالسي کښې له مسلم قرشي روایت نقلوي چې وائي: «د ابو بکر د لور بي بي اسماء خدمت ته ورغلم او له هغې مې د متعې په حقله پوښتنه وکړه وې ویل: «مونږ د پېغمبراکرمﷺ په زمانه کښې دا کار کړے دے».[۲]

ه- مسند احمد بن حنبل او داسې نورو له ابوسعید خدري روایت نقل کړے دے چې وې ویل: «مونږ به د پیغمبراکرمﷺ په زمانه کښې متعه [عارضي وادۀ] کوله او مهر به مو لباس او جامې اېښودلې.»[۳]

---

۱. صحیح مسلم، کتاب نکاح، مخ۱۰۲۴، حدیث ۱۰۴۲؛ سنن بیهقی، ټوک۷، مخونه ۲۰۲ او ۲۰۳؛ مسند احمد بن حنبل، ټوک۳، مخ۴۰۵.
۲. مسند طیالسي، حدیث ۱۲۳۷.
۳. مسند احمد بن حنبل، ټوک۳، مخ۲۲؛ مجمع الزوائد، ټوک۴، مخ۲۲۴.

و- د عبدالرزاق په مصنف کښې راغلي دي چې: «مونږ ځينو کسانو به په مهر کښې له اوړو نه د ډکو لوښو په ورکولو سره متعه کوله.»[۱]

ز- په صحيح مسلم او مسند احمدبن حنبل او داسې نورو کتابونو کښې له عطا روايت کيږي چې وې ويل: جابر بن عبدالله د عمرې ادا کولو په اراده [ مکې مکرمې ته] راغے او مونږ د هغهٔ د ليدلو لپاره د هغهٔ کور ته ورغلو او له هغهٔ مو څو ديني مسئلې وپوښتلې او بيا مو د متعې بحث شروع کړ.

جابر وويل: «هو، مونږ د پېغمبراکرمﷺ او ابوبکر،او عمر په زمانه کښې«متعه» (عارضي نکاح) کوله.»[۲]

۱. مصنف د عبد الرزاق، ټوک۷، مخ۴۵۸.
۲. صحيح مسلم، کتاب نکاح، مخ۱۰۲۳، حديث ۱۴۰۵. شرح نووی، ټوک۹، مخ۱۸۳؛ مسند احمدبن حنبل، ټوک۳، مخ۳۸۰ او رجال احمد، رجال الصحيح. ابو داود په باب الصداق کښې وائي: د رسول اللهﷺ، ابوبکر او د عمر د خلافت تر نيميائے

په مسند احمد بن حنبل کتاب کښې له دې عبارته وروسته وائي: «او دغه کار د عمر د خلافت تر وروستيو وختونو پورې جاري ؤ.»

او په بداية المجتهد کښې وائي: «دا کار د عمر د خلافت تر نيمائۍ پورې روان ؤ، بيا عمر خلق له دې کاره منعې کړل.»[۱]

## ۵- د خپل خلافت په ورستيوکښې، د عمر لخوا د متعې د مخنيوي علت

په صحيح مسلم، مصنف د عبدالرزاق، مسند احمد بن حنبل، سنن بيهقی او داسې نورو کتابونو کښې له جابر بن عبدالله انصاري روايت شوےدے چې وائي: ټولو صحابه ؤ به د پېغمبراکرمﷺ او ابوبکر، په زمانه کښې په مهر کښې د لږو اوړو او لږو خرماو (کجورو) په ورکولو سره

---

پورې به مو متعه کوله، بيا دويم خليفه له هغۀ نهي وکړه. او هم دا رنګ مراجعه وکړئ: عمدة القاري، ټوک۸، مخ۳۱۰.

۱. بداية المجتهد، ابن رشد، ټوک۲، مخ۲۳.

متعه «عارضي وادۀ» کوۀ، ان تر دې چې عمر د عمرو بن حریث د کار له امله متعه ممنوع اعلان کړه.[۱]

په مصنف ابن ابی‌شیبه کښې له عطاء او جابر څخه روایت شوے دے چې وې ویل: «مونږ د پیغمبراکرمﷺ او ابوبکر او عمر په زمانه کښې متعه «عارضي نکاح» کوله حتی د عمر د خلافت په وروستیو وختونو کښې عمرو بن حریث یوې ښځې سره متعه وکړه ـ راوي وائي: چې جابر د هغې نوم واخښست خو زما هېر شو ـ بیا هغه ښځه امیدواره

۱. صحیح مسلم، باب نکاح المتعة، مخ۱۰۲۳، حدیث ۱۴۰۵؛ شرح نواوی، ټوک۹، مخ۱۸۳؛ مصنف عبدالرزاق، ټوک۷، مخ۵۰۰؛ سنن بیهقی، ټوک۷، مخ۲۳۷، باب (ما یجوز ان یکون مهرا)؛ مسند احمد بن حنبل، ټوک۳، مخ۳۰۴؛ چې په کښې داسې عبارت راغلے دے وائي: ان تر دې چې په وروستیو کښې عمر مونږ له دې منعې کړو. د تهذیب التهذیب لیکوال د دې حدیث خلاصه د موسیٰ بن مسلم د ژوند په لیک کښې، ټوک۱۰، مخ۳۷۱، کښې ذکر کړې ده؛ فتح الباري، ټوک۱۱، مخ۷۲؛ زاد المعاد، ابن قیم، ټوک۱، مخ۲۰۵؛ کنزالعمال، ټوک۸، مخ۲۹۳.

شوه او دا خبر عمر ته ورسید هغه یې راوغوښته او پوښتنه یې ترې وکړه چې ایا دا ربنتیا دي؟ وې ویل هوعمر وویل څوک د دې ګواه شته؟ ـ عطا وائي پوه نه شوم چې هغې ښځې څه وویل چې مور یا د خپل سرپرست نوم یې واخېست ـ عمر چې ویره یې لرله چې دهوکه پکې نه وي، وې ویل: ولې له دې نه بغېر بل څوک نۀ وو؟»[1]

په بل روایت کښې راغلي دي چې جابر وائي چې: «عمرو بن حریث له کوفې څخه مدینې ته راغے او ازادې شوې وینځې سره یې متعه وکړه دغه وینځه چې حامله (بچې یې په خېټه ؤ) وه عمر ته بوتللې شوه هغۀ ترې تپوله خبره وپوښتله نو هغې ورته ځواب ورکړ چې عمرو بن حریث راسره متعه «عارضي نکاح» کړې ده. نو عمر له عمرو بن حریث نه هم پوښتنه وکړه او هغۀ هم په څرګنده توګه دا خبره تایید کړه،

۱. مصنف عبدالرزاق، ټوک۷، مخونه ۴۹۲ او ۴۹۷، باب المتعة.

عمر وویل: ولې د بل چا سره دې متعه نه کوله؟ ـ خو دا هغه وخت ؤ چې عمر متعه منعې کړې وه.»[۱]

په یو بل روایت کښې له محمد بن اسود بن خلف نه روایت نقل شوے دے چې وائي: «عمرو بن حوشب د بني عامر بن لؤی نومې قبیلې له یوې پیغلې سره متعه «وقتي وادۀ» وکړه نو هغه پېغله حامله شوه او دا خبره عمر ته ورسیده عمر له هغې پېغلې پوښتنه وکړه هغې وویل چې: عمرو بن حوشب راسره متعه [عارضي نکاح] کړې ده. بیا یې دا خبره له عمرو بن حوشب نه وپوښتله نو هغۀ دا خبره تائید کړه عمر ورته وویل چې څوک دې ګواه ګرځولے دے؟ ـ راوي وائي پوهه نه شوم چې مور یا خور یا ورور او یا د پلار نوم یې ورته واخېست. ـ عمر پاڅېد او منبر ته اوخت او وې ویل: «ولې په دې څه کیږي چې کوم کسان متعه کوي په هغې باندې عادل کس ګواه نه نیسي او په ښکاره یې نۀ کوي...

---

۱. مصنف عبدالرزاق، ټوک۷، مخ۵۰۰؛ فتح الباري، ټوک۱۱، مخ۷۲، په هغه کښې داسې عبارت دے وایي: د خبرې پوښتنه یې هغۀ وکړه او عمرو په ډاګه د هغۀ اعتراف وکړ....

مګر دا چې ورباندې به حد جاري کړم.» راوی وائي: «د عمر دا خبره بل چا ما ته نقل کړه چې هغه کس منبر لاندې ناست ؤ او په خپلو غوږونو يې اوريدلې ده وائي: خلقو هم د هغه خبره ومنله.»[۱]

په کنزالعمال کښې د ابی‌خيثمة له لور ام عبدالله روايت کوي چې: «يو سړے له شام نه راغے او د هغې په کور کښې استوګن شو او وې ويل: بې له ښځې زۀ ډير په سختئ او تکليف کښې يم ما لره يوه ښځه راپيداکړه چې ورسره متعه وکړم.» وائي:«هغۀ ته مې يوه ښځه وښائيله هغې مهر مقرر کړ او څو عادل کسان يې ورباندې ګواه وګرځول نو تر هغه وخته پورې يې ورسره ژوند تير کړ چې تر څو خداى پاک غوښتل بيا ـ له مدينې بهر لاړ.» دا خبره عمر بن خطاب ته

۱. مصنف عبدالرزاق، ټوک۷، مخونه ۵۰۰ او ۵۰۱. ليکوال وائي: زما په نظر عمرو بن حوشب غلط دے بلکه هماغه عمرو بن حريث صحيح دے، هم دا رنګ د دويم خليفه کلام يوه برخه له دې جملې: «په هغه عادل ګواه نۀ نيسم او هغه نۀ په ډاګه کوم» وروسته حذف شوې ده.

ورسیده هغهٔ زهٔ وغوښتم او پوښتنه یې وکړه ایا خلق چې دا څه وائي رښتیا دي؟ ما ورته وویل هو رښتیا دي، وې ویل: کله هم چې هغه سړے بیا راشي نو ما خبر کړه نو کله چې هغه سړے بیا راغے نو ما عمر ته خبر ورکړ نو هغه یې راوغوښتهٔ ورته یې وویل چې ولې دې دا کار وکړ؟ وې ویل ما دا کار د رسول اللهﷺ په زمانه کښې هم کړے ؤ او هغه له ما خبر ؤ او تر څو چې هغه ژوندے ؤ مونږ یې له دې کاره منعې کړي نهٔ وو. بیا د ابو بکر په زمانه کښې هم دا کار جاري ؤ او هغه هم تر څو چې ژوندے ؤ مونږ یې له دې کاره منعې نهٔ کړو. بیا ستا په خلافت کښې هم مونږ د نهې او د ممنوعیت اعلانه نهٔ یوو خبر. عمر وویل: «آگاه او خبر شئ! په خدا ے قسم، که له دې مخکې مو له متعې منعې کړې وئ نو اوس به مو سنگساروم، له یو بل جدا شئ چې «نکاح» او وادهٔ له «سفاح» او زنا جدا وپیژندلې شي».[1]

۱. کنزالعمال، ټوک۸، مخ۲۹۴، خپرندویه دائرة المعارف، حیدرآباد دکن، ۱۳۱۲ هجري کال.

په مصنف عبدالرزاق کښې له عروه روايت کوي چې وې ويل: ربيعة بن اميه بن خلف د مدينې يوې غير عربې ښځې سره متعه وکړه او دوه ښځې چې يوه پکښې خوله بنت حکيم وه ورباندې ګواهانې جوړې کړې ـ خوله بنت حکيم يوه نېکه او پاکيزه ښځه وه ـ لږ وخت پس هغه غېر عربه ښځه حامله شوه نو خوله بنت حکيم دا خبره عمر بن خطاب ته ورسوله، عمر پاخېد په داسې حال کښې چې سخت غصه ؤ او عبا يې په زمکه باندې راکښله په منبر وختۀ او وې ويل: «ماته خبر رارسيدلے دے چې ربيعه بن اميه د مدينې يوې غير عربې ښځې سره متعه کړې او دوه ښځې يې په دې کار د ګواه په توګه نيولې دي که دې وړاندې مو متعه حرامه کړې وې نو [اوس مې] دا دواړه سنګسارول.»[1]

مالك په موطّأ او بيهقي په سنن کښې روايت کوي چې: خوله بنت حکيم د عمر بن خطاب خدمت ته ورغله او وې ويل چې: ربيعه بن اميه يوې ښځې سره متعه «عارضي

۱. مصنف عبدالرزاق، ټوک۷، مخ۵۰۳؛ مسند شافعي، مخ۱۳۲. اصابه، د ربيعه بن اميه د ژوند ليک، ټوک۱، مخ۵۱۴.

نکاح» کړې وه او هغه حامله شوې ده، عمر په داسې حال کښې چې خپل څادر او عبا یې په زمکه راکښله بهر راووت او وې ویل: «که دا متعه مو له دې وړاندې ممنوع کړې وې نو اوس به مو دوې سنګسارول.»[1]

په اصابه کښې وائي: سلمه بن امیه د حکیم بن امیه ابن اوقص الاسلمي له ازادې شوې وینځې سلمې سره متعه وکړه. نو د سلمې بچې وزیږید او هغهٔ له خپل زوے انکار وکړ. خبره عمر ته ورسېده او هغهٔ متعه ممنوع او حرام اعلان کړه.[2]

عبدالرزاق په مصنف کښې له ابن عباسه روایت کوي چې وې ویل: «امیرالمؤمنین [عمر] د اُم اراکه د «متعه» نه بغېر

۱. موطأ مالك، مخ۵۴۲، حدیث ۴۲، باب نکاح المتعة؛ سنن بیهقي، ټوک۷، مخ۲۰۶، په دې عبارت داسې دے وائي: هغه مو سنګسارول؛ کتاب الام، شافعي، ټوک۷، مخ۲۱۹؛ تفسیر سیوطي، ټوک۲، مخ۱۴۱.
۲. اصابه، ټوک۴، مخ۳۲۴ او ټوک۲، مخ۲۱، د سلمې د ژوند لیک.

بل څه د متعې په نهي او ممنوع کولو ونۀ وهڅوۀ. هغه (ام اراکه) په حامله توب حال کښې بهر راووته او عمر ترې د حامله توب سبب وپوښتۀ، هغې وويل: سلمه بن اميه بن خلف راسره متعه «عارضي نکاح » ترلې ده...»[1]

ابن ابی‌شيبه په مصنف کتاب کښې له علاء بن مسيب او هغه له خپل پلار روايت کوي چې عمر وويل: «که داسې کس ما ته راوستل شي چې يوې ښځې سره يې متعه کړې وي، که هغه کس، محصن [ښځه لرونکے ]وي نو سنګساروم به يې خو که مجرد او ښځه نه لري نو بيا به ورته تازيانې او کوړې ورکوم».[2]

****

په تيرو روايتونو کښې مو دا تر لاسه کړل چې د پېغمبراکرمﷺ اصحابووويل چې: ﴿فَمَا ٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِهِۦ ﴾

---

۱. المصنف، عبدالرزاق، ټوک۷، مخ۴۴۹.
۲. المصنف، ابن ابی‌شيبه، ټوک۴، مخ۲۹۳.

ایت د متعې او «وقتي نکاح» په حقله نازل شوے دے، او پیغمبراکرمﷺ هم د دې کار د تر سره کولو حکم کړے دے او هغوي (صحابه ؤ) په معین کړې شوي او معلوم مهر په بدل لکه لباس او څادر او اوړهٔ او خرما وغېره د پیغمبراکرمﷺ په زمانه کښې له ښځو سره متعې «عارضي نکاح » تړلې او دا حکم د ابوبکر په زمانه کښې او د عمر د خلافت تر نیمیائۍ پورې جاري او روان ؤ ان تر دې چې عُمر د عَمرو بن حریث د یو کار په خاطر متعه ممنوع اعلان کړه، او په تیرو حدیثونو کښې له دې هم خبر شو چې متعه د عمر د خلافت په دوران کښې هم د هغه لخوا له ممنوع کېدو وړاندې په څرګنده تر سره کیدا. او داسې ښکاري چې د دې حراموالے به تدریجې او مرحله په مرحله وي یعني وړومبې یې د ګواهانو په حقله سختي شروع کړه چې مومن او عادل کسان ګواهان جوړ کړئ لکه له ځینو تېرو حدیثونو دغه خبره زمونږ ذهن ته راځي- او بیا یې په وروستي او پرېکنده توګه نهي کړې وي او ویلي یې وي چې: «که له دې وړاندې مو حرام کړې وې نو اوس به مو سنګسارولئ.»

له دې پېښو وروسته، متعه په اسلامي ټولنه کښې ممنوعه او حرامه شوه او دويم خليفه هم د خپل عمر تر آخره پورې په دې تاکيد کوۀ او د خېرخواو او نصيحت کوونکو نصيحت په هغه (عمر) څه اثر ونۀ کړ.

طبری د دويم خليفه عمر په سيرت کښې له عمران بن سواده روايت کوي چې هغۀ له خليفه اجازه واخښسته او د هغۀ خدمت ته ورغے او وې ويل: «د نصيحت په اراده راغلے يم!»

عمر وويل: «سهار او ماښام دې درود او سلام وي په تا اے نصيحت کوونکيه.»

هغۀ وويل: «امت په څلورو څيزونو کښې په تا اعتراض لري»

وائي: عمر خپله کوړه او تازيانه په لاس کښې راوخښسته او په لاس کښې يې خوځوله او بيا يې ماته وويل: وايه!

عمران وويل: «خلق وائي: چې تا عمره [تمتع] د حج په حرامو مياشتو کښې ممنوع کړې ده حال دا چې پېغمبراکرمﷺ دا کار نه کوۀ يعني څوک يې نۀ منعې کول

او ابوبکر هم همداسې ؤ او هغه (عمره تمتع په حرامو میاشتو کښې هم) حلاله او روا وه.»

عمر وویل: «هغه حلاله او جایزه ده خو که څوک د حج په حرامو میاشتو کښې هغه تر سره کړي نو دا ګومان کوي چې له حجه کفایت کوي (یعني بس د حج د ادا کولو ضرورت نیشته) نو خلق به په حج کښې ډېر لږ پاتې شي حال دا چې حج د خدا ے په انوارو کښې یو نور دے نو زما کار سم دے او زما فکر هم سم او صحیح دے!»

عمران وویل: «خلق وائي: تا «متعه نساء» [عارضي نکاح] حرامه کړې ده حال دا چې هغه خدا ے حلاله کړې ده او مونږ به په یوې مناسب مهریې سره متعه کوله او بیا به درې ورځې پس له یو بل جدا کېدو.»

عمر وویل: «رسول خدا ﷺ متعه د ضرورت په وخت حلاله کړې وه، پس له هغه خلق په ارام او خوشحالیو شول او سختیانې ختمې شوې او اوس زهٔ څوک مسلمانان نه وینم چې په هغه عمل وکړي، اوس هم که څوک غواړي په یو مناسب مهر سره وادهٔ وکړي او له درېو ورځو پس په طلاق

سره جدا شي، بس زما دا کار هم سم ؤ او ښه کار مې کړې دے.»[۱]

****

ليکوال وائي: د متعه الحج د حراموالي په حقله د دويم خليفه توجيه او سپيناوے په دې وينا سره چې: «که مسلمانان د حج په مياشتو کښې عمره تمتع ادا کړي نو داسې ګومان به کوي چې دغه عمره د حج لپاره هم بس ده»، دا سپيناوے، د حج او د عمرې د جمع او يو ځاے تر سره کولو څخه په نهي کولو سره سمه نه ده. حقيقي او واقعي علت په يو بل روايت کښې راغلے دے چې هغۀ ويلي دي چې: «د مکې خلق نه د پيو او شودو سينې (څاروي) لري او نه ګټور کښت او کر کيله لري، نو د مکې بهار هله راځې چې دلته د خانه خدا مېلمانۀ زيات وي.په همدې وجه (دې حکم سره ) حاجيان بايد دوه ځله دلته راشي يو ځل د حج

۱. تاريخ طبري، ټوک۲، مخ۳۲، په (د ۲۳ هجري کال د پېښو په ترڅ کښې د عمر سيرت يوه برخه) نومې باب.

لپاره او بیا هم د عمره مفردې لپاره، چې د مهاجرینو ریښه او جرړه یعني قریش، له دې ګټه واخلي.»

خو د «نکاح متعه» په حقله د دویم خلیفه سپیناوے په دې وینا سره چې: «د رسول د خداےﷺ په زمانه کښې د دې ضرورت ؤ خو اوس مهال د دې ضرورت نیشته» دا سپیناوے هم د منلو نۀ دے. ځکه چې په ډېرو هغو حدیثونوکښې چې، د پېغمبراکرمﷺ په زمانه کښې د متعې په تر سره کېدو صراحت لري، دې ته اشاره لري چې د متعې حکم په جنګونو او سفر کښې نازل شوے، نو له دې اړخه د پېغمبراکرمﷺ په زمانه او د دویم خلیفه په زمانه کښې او حتی نننۍ زمانه کښې او راتلونکو وختونو کښې، هیڅ کوم فرق نشته.

ځکه چې له کله راهسې انسان په دې زمکه قدم ایښے دے تل سفر ته محتاج او اړمن دے او په ورځو، یا میاشتو او کله کله په کلونو له خپلې کورنۍ لرې پاتې کېږي، نو که یو کس په سفر لاړ شي اوسفر یې هم اوږد وي نو جنسي طاقت او غریزې سره څۀ وکړي؟ ایا هغه غریزه له ځانه جدا

کړي او بل ځاے کښې يې کيږدي چې کله راستون شي نو بيا يې رواخلي؟ يا دا چې جنسي غريزه او شهوت، تل هغه سره دے که په سفر کښې وي او که په کور کښې وي نو چې کله دا شهوت ورسره دے نو هغه له دې انکار کولې شي او خپل ځان معصوم جوړ کړي؟ کيدې شي ځينې کسان داسې وي چې هغوي له ګناه ځان ساتلې شي خو ايا ټول انسانان داسې کولې شي؟ يا دا چې اکثره خلق خپلې غريزې ځپي؟ نو که دومره زيات انسانان په يوې ټولنې کښې ژوند کوي او هغوي د شهوت له استعمالولو منعې کړو او له هغوي وغواړو چې خپل فطرت او سرشت سره مخالفت وکړي نو هغه بايدڅه وکړي؟ ايا بې له دې چې ټولنې سره خيانت وکړي بله کومه لاره هغه لپاره شته؟

آيا اسلام چې يو بشپړ دين دے، د انسان د ټولو مشکلاتو لپاره مناسب حل لري، خو يوازې دې مشکل لپاره يې څه حل نه دے بيان کړې؟ ولې نه، د دې مشکل حل لپاره يې هم متعه روا او مشروعه کړې ده او هماغه شان چې حضرت امام علي﷣ وفرمايل: «که عُمر متعه نه وې حرامه کړې نو بې له شقي او بد بخته کس به بل چا زنا نۀ کوله.» البته غېر

اسلامي ټولنو د دې مشکل حل په زنا کښې ولید نو هغوي زنا کول په هر ځاے کښې ازاده پرېښې ده!

هغه څه چې بیان شول یوازې د هغو مسافرانو مشکل نهٔ دے چې کوم له خپل وطنه لرې دي بلکې ډېر داسې خلق شته چې هغوي په خپل وطن کښې د وادهٔ کولو توان نه لري او دا د ښځې او سړي دواړو مشکل دے نو ښه که یو ځوان د اوږدې مودې لپاره وادهٔ نه شي کولې نو که متعه ونهٔ کړي نو بل به څه سره دې مشکل ته ځواب ورکوي.؟ په تېره بیا قران مسلمانو سړو ته فرمائي: و لا تواعدوهن سرا[1] له هغوي سره پټې وعدې او ژمنې مهٔ کوئ. او د مسلمانو ښځو په حقله فرمائي: ولا متخذات اخدان[2] [پاك لمنې چې] پټې دوستانې نهٔ کوي!

خو څه چې دویم خلیفه د خپل حراموالي په سپیناوي کښې بیان کړي چې متعه په دائمي وادهٔ کښې بدله کړي او له

۱. سوره بقره: ۲۳۵.
۲. سوره نساء: ۲۵.

دریو ورځو پس طلاق واخلي نو د دې کار دوه نتیجې کیدې شي: ورومبۍ دا چې دا فېصله د ښځې او سړي دواړو په اطلاع سره وي(چې له درې ورځو پس به بیلیږي) او دواړه په دې راضي وي نو دا هماغه متعه او عارضي وادهٔ دے.

دویم دا چې مېړهٔ دا اراده لري خو دا خبره له ښځې پټوي نو دا کار له ښځې سره یوه دهوکه ده او د هغې سپکاوے دے کېدې شي هغې له دغه سړي سره د دائمي وادهٔ په حقله توافق کړے وي خو سړي [له دریو ورځو وروسته د طلاق] نیت له ښځې څخه پټ کړے وي.

ښه نو اوس که دا ډول ودونه چې په ظاهر کښې دائمي دي خو په حقیقت کښې درې ورځنے وي وشي نو په معاشره کښې به د ښځو لپاره او د هغو مشرانو لپاره په چا اعتماد باقي پاتې شي؟[1]

---

۱. نن سبا په سعودي او نورو عربو هېوادونو کښې په وهابیانو او سنیانو کښې د «مسیار» په نامه دغه ډول ودونه رواج لري

یعنې له یوې ښځې سره دائمي نکاح وتړي او تر څومره مودې چې یې خوښه وي خوند ترې واخلي بیا ورته طلاق ورکړي. البته په دې نکاح کښې د سړي په ذمه د ښځې د نفقې په شان ذمه واریانې نهٔ وي. دا بالکل د متعې نکاح یو بل شکل دے خو په متعه کښې له نکاح نه مخکې طرفین وخت ټاکي او چې کله هغه وخت راشي نو د طلاق ورکولو ضرورت نهٔ وي او په خپله طلاق وشي خو په مسیار نکاح کښې چې کله د سړي زړهٔ وغواړي که هغه یو ګېنټه پس وی او څو ورځې، څو میاشتې او څو کاله پس وي. یعنې ښځه د سړي په رحم و کرم او طمه وي چې کله یې زړهٔ مړېږي او طلاق.ورکوي. هسې که په غېر جانبدارانه سترګه دواړو نکاح ګانو ته په غور وکتې شی نو په مسیار نکاح کښې یو ډول دهوکه او فرېب او د ښځې د انساني کرامت سپکاوے ښکاري، ځکه چې سړي ځان سره په زړهٔ کښې د طلاق یو وخت ټاکلے وي خو ښځه غریبه ترې نه وي خبر او هغه د دائمي نکاح په نیت وخت تېروي. خو په متعه نکاح کښې دواړو ته پته وي چې دا نکاح د څومره وخت لپاره ده او وخت د دواړو په خوښه او رضامندۍ سره ټاکل کیږي او څه دهوکه او فرېب پکې نهٔ ښکاري.

په آخر کښې پکار دي ووايوو چې د دويم خليفه او د عمران له خبرو اترو او نورو هغو روايتونو څخه چې د حليفه نورې ويناوې په دې حقله رارسيدلې دي، څرګنديږي چې هغه ټول روايتونه چې د متعې د حراموالي په اړه له پيغمبراکرمﷺ نقل کړې شوي دي او د حديث او تفسير اصلي کتابونو ته رسيدلي دي هغه ټول دورغ او خپله جوړ کړې شوي دي او اکثر د دويم خليفه له خلافت نه پس جوړ کړې شوي دي، ځکه چې که کوم يو صحابي هم د هغۀ د خلافت په دوران کښې له پيغمبراکرمﷺ څخه داسې حديث لرۀ چې هغه د متعة الحج يا متعة النساء په حقله د خليفه د مرضي او خوښه تاييدولې، نو يقينا هغه به يې خلقو ته بيانول، ځکه چې د داسې حديث د پېژنولو څه دليل نه ؤ بلکه د دويم خليفه تائيد او خوشحالول هم وو او که چرې خليفه هم د خپل خلافت په دې پړاو کښې داسې حديث ليدلې وې نو خامخا به يې له هغۀ سره استدلال کوۀ او پخپله به يې په مسلمانانو دومره سختي نه کوله او مختلف سپيناوي به يې نه وړاندې کول بلکه د حديث په شتون سره به د سپيناوي هډو ضرورت نه پاتې کيدۀ.

په دا ډول، د دویم خلیفه دوران ختم شو حال دا چې هغه خپل سیاسي مخالفان ځپل او د هغو سا یې په سینو کښې خفه کړې وه هغه حتیٰ د پېغمبر اکرمﷺ د حدیث راویان به یې هم د حدیث له نقلولو منعې کول!

همدغه سیاست د دریم خلیفه د خلافت تر وروستیو شپږ وکلونو پورې دوام لرۀ او د متعې د منعې او حرام والي حکم ورو ورو په اسلامي ټولنه کښې خپور شو او پس له دې نوے نسل راغے چې د اسلام له تعلیماتو نه ؤ خبر، مګر یوازې له هغو معارفو او تعلیماتو خبریدل چې خلفاؤ د هغه د تبلیغ خپرونې اجازه ورکوله، په راتلونکې برخې کښې هم دا موضوع څیړو.

## ۲- متعه د دویم خلیفه له خلافته وروسته

د دریم خلیفه د خلافت په نیمائۍ کښې د خلافت واکمن چارواکي په اختلافاتو کښې اخته شول او په دوو ډلو کښې تقسیم شول چې: بي بي عائشه، طلحه، زبیر او عمرو بن عاص او د هغوي منونکي په یوې ډلې کښې او د بني العاص او مروان او د هغۀ زامن او بلکې ټول بني امیه او د

هغوي منونکي په بله ډلې کښې شول. دا سیاسي نښتې او لانجې د دې سبب شوې چې د مسلمانانو لپاره لاره خلاصه شي او نسبتا هغوي ته ازادي ملاؤ شي او د منعې کړې شويو حديثونو يوه برخه خپره شي، چې خلق يې د خليفه په مقابل کښې راوستل، او د مسلمانو نوي نسل داسې خبرې او څيزونه واوريدل چې له دې وړاندې يې نه شول اوريدلې او داسې کارونه يې وليدل چې هرګز يې نۀ وو ليدلې، د متعې په حقله ځينې مخالفتونه په دې ډول دي.

١- د عبدالرزاق په مصنف کښې له ابن جريح او هغه يې له عطا روايت کوي چې وې ويل: «وړومبنے کس چې د متعې [عارضي وادۀ] نوم مې ترې واوريدۀ، صفوان بن يعلى ؤ. وائي: هغۀ ما ته وويل چې په طائف کښې معاويه يوې ښځې سره متعه کړې ده خو زما د هغۀ کار خوښ نۀ شو. د ابن عباس خدمت ته ورغلوو او دغه قصه مو ورته بيان کړه، نو هغۀ وويل چې هو، متعه حلاله او روا ده. راوى وائي: زما زړۀ په قراره نۀ شو همدغه وخت جابر بن عبدالله له سفره راغے مونږ ټول د هغۀ خدمت ته ورغلو خلقو له هغۀ پوښتنې کولې او د متعې خبره هم پکښې راغله، نو جابر په

ځواب کښې وويل چې هو مونږ د رسول الله ﷺ، ابوبکر او عمر په زمانه کښې «متعه» [عارضي نکاح] کوله او د عمر د خلافت په ورستيو کښې عمرو بن حريث يوې ښځې سره متعه وکړه او..... تر آخره پورې چې مخکښې بيان شو.»[1]

۲- او هم دا رنګ د عبدالرزاق په مصنف کښې راغلي چې: «معاويه بن ابی‌سفيان طائف ښار ته له داخلېدو وروسته د ابن خضرمي ازادې شوې وينځې معانه سره متعه وکړه.» جابر وائي: «ما معانه د معاويه د خلافت په دوران کښې ليدلې وه او هغه ژوندۍ وه او معاويه به هر کال هغې ته تحفې او ډالۍ ليږلې ان تر دې چې په حق ورسيده.»[2]

۳- هم داسې په همدې کتاب کښې له عبدالله بن خيثم نه روايت شوے دے چې وې ويل: «په مکه ښار کښې يوه

---

۱. مصنف عبدالرزاق، ټوک۷، مخونه ۴۹۶ او ۴۹۷، باب المتعه.

۲. هماغه، مخ۴۹۹.

عراقي ښځه چې ډېره عبادت ګزاره وه له خپل زوے ابو امیه سره اوسېده او سعید بن جبیر به د هغې کور ته زیات تګ راتګ کوۀ. وائي: «سعید ته مو وویل: ولې دې کور ته ډېر ځې راځې ؟» سعید وویل: «ما له هغې سره متعه کړې ده.» وائي: سعید هغۀ ته ویلي دي چې: متعه «عارضي نکاح» د اوبو له څښلو هم زیاته جائزه او روا خبره ده.[1]

****

هو، له هماغه وخته د متعې «عارضي نکاح» د حلال والي خبرې شروع شوې او دا فتوې هم شروع شوې چې متعه حلاله ده، په مصنف عبدالرزاق کښې وائي: علي‌علیه‌السلام په کوفه کښې وویل: «که د عمر بن خطاب مخکښې نظریه او رائې نه وې نو ما به د متعې د تر سره کولو حکم ورکوۀ، نو بې له شقي او بدبخته به بل چا زنا نه کوله.»[2]

---

۱. هماغه، مخ۴۹۲.
۲. مصنف عبدالرزاق، ټوک۷، مخ۵۰۰.

د طبري، نیشابوري، فخر رازي، ابی‌حیان او سیوطي په تفسیرونو کښې روایت کیږي چې یې وفرمایل: «که عمر متعه نه وې حرامه کړې نو بې له شقي او بد بخته کس نه بل چا به زنا نه کوله.»[1]

په تفسیر قرطبي کښې روایت شوے دے چې ابن عباس وویل: «عارضي وادهٔ» متعه د خدا ے تعالی هدیه او ډالۍ ده چې خدا ے خپلو بندګانو ته بخښلې ده [خو عمر هغه منعې کړه] او که عمر دا حرامه نه وې کړې نو بې له شقي او بد بخته کسه به بل چا زنا نه کوله.»[2]

په مصنف عبدالرزاق، احکام القرآن جصاص، بدایة المجتهد ابن رشد، درالمنثور سیوطي او د نهایة اللغة ابن

۱. تفسیر طبري، ټوک۵، مخ۱۷؛ تفسیر نیشابوري، ټوک۵، مخ۷؛ تفسیر فخر رازي، ټوک۳، مخ۲۰۰؛ تفسیر ابوحیان، ټوک۳، مخ۲۱۸؛ تفسیر سیوطي، ټوک۲، مخ۴۰.
۲. تفسیر قرطبي، ټوک۵، مخ۱۳۰.

اثیر، لسان العرب ابن منظور، تاج العروس زبیدي په «شقي» مادې کښې روایت کیږي چې:

عطا وائي:وامو وربدل چې ابن عباس ویل چې: «خدا ے تعالیٰ دې عمر وبخښي! «متعه» یوازې د خدا ے پاک یو رحمت د ے چې د حضرت محمد ﷺ په امت یې نازل کړ ے د ے خو [ عمر دا ممنوع کړ] او که د عمر نهي کول نه وې نو بې له شقي او بد بخته کس به بل چا زنا ته ضرورت نهٔ لرهٔ.»[1]

په مصنف عبدالرزاق کښې د «رحمت» ټکي په ځا ے د «رخصت» ټکے د ے او د حدیث په آخر کښې د «شقا» ټکي په ځا ے «شقي» راغلے د ے. عطا وائي: قسم مې دې په

---

۱. احکام القرآن، جصاص، ټوک۲، مخ۱۴۷؛ تفسیر سیوطي د ایت په تفسیر کښې، ټوک۲، مخ۱۴۱؛ بدایة المجتهد، ټوک۲، مخ۲۳؛ نهایة اللغة، ټوک۲، مخ۲۲۹؛ لسان العرب، ټوک۱۴، مخ۲۲؛ تاج العروس، ټوک۱۰، مخ۲۰۰؛ الفائق، زمخشري، ټوک۱، مخ۳۳۱. او هم دا راز مراجعه وکړئ دې کتابونو ته: تفسیر طبري، ثعلبي، رازي، ابی‌حیان، نیشاپوري او کنز العمال.

پاک الله وي چې تهٔ به وائې د هغهٔ وينا اوس هم اورم چې ويل يې: «الاّ شقي» مګر بدبخته کس!

او د بداية المجتهد عبارت داسې دے چې: «و لو لا نهی عمر عنها ما اضطرّ الی الزنا الا شقی؛ که عمر متعه نه وې حرام کړې نو بې له شقي او بد بخته کس نه بل څوک به زنا ته نهٔ مجبوريدهٔ.»

## ۷- هغه کسان چې عمر نه پس يې د متعې په حلالوالي تاکيد کوهٔ

ابن حزم په خپل کتاب محلّي کښې وائي: «پس له رسول اللهﷺ نه د بزرګوارو او غټو صحابهٔ يوه ډله د متعې په حلالوالي باقي پاتې شوه چې هغه دا ده: اسماء د ابوبکر لور، جابر بن عبداللّه انصاري، ابن مسعود، ابن عباس، معاويه بن ابی‌سفيان، عمرو بن حريث، ابوسعيد خدري او سلمه او معبد د اميه بن خلف زامن. جابر بن عبداللّه د پېغمبراکرمﷺ او ابوبکر او د عمر د خلافت تر ورستيو پورې د متعې (د حلالوالي) په حقله له ټولو صحابهٔ روايت کړے دے.»

هغوي وائي چې: «عمر بن خطاب يوازې په هغه مورد کښې له متعې منعې کړې وه چې دوه عادل ګواهان نه وي خو که چرې دوه عادل کسان په دې کار ګواه وګرځولې شي نو بيا هغۀ هم دا کار روا بللے دے.»

او بيا وائي: «له تابعينو هم، طاوس، عطاء، سعيد بن جبير او د مکې ټول فقهاؤ ـ اعزّها اللّه ـ د متعې په روا والي ټينګار کوۀ.»[1]

قرطبي په خپل تفسير کښې روايت کوي چې: «نکاح متعه [عارضي وادۀ] يوازې عمران بن حصين، او د اهلبېتو عليهم السلام ځو نورو اصحابو حلاله کړې ده.» او وائي: ابو عمر وائي: «د ابن عباس ملګرو، که هغه د مکې وو او که د يمن وو،

---

۱. المحلي، ابن حزم، ټوک۹، مخونه ۵۱۹ او ۵۲۰، مسأله ۱۸۵۴. نووي د صحيح مسلم په شرحه کښې هم، د ابن مسعود رائې او نظريه په ټوک۱۱، مخ۱۸۲، کښې راوړې ده.

ټولو «عارضي وادهٔ» د ابن عباس د نظریې مطابق روا ګڼهٔ.»[۱]

ابن قدامه په مغني کښې وائي: «له ابن عباسه روایت شوے دے چې هغه «متعه» جائزه ګڼلې او ډېرو نورو صحابهٔ او عطاء او طاوس هم، همدغه عقیده لرله. ابن جریح خو په دې اړه فتوا هم ورکړې او د متعې حلال والے یې د ابو سعید خدري او جابربن عبدالله انصاري له قوله روایت کړے او شیعهٔ هم د هغوي پیروي کړې ده. ځکه چې یقیناً پېغمبر اکرمﷺ د دې کار اجازه ورکړې ده.»[۲]

## ۸- د متعې په حرام والي کښې د دویم خلیفه پېروکار او د هغوي اختلافات

د متعې په حرام والي عقیده لرونکو کښې یو کس عبدالله بن زبېر دے. ابن ابيشیبه په خپل مصنف کښې له ابن ابیذئب روایت نقلوي چې وې ویل: «وامې وریدل چې ابن

---

۱. تفسیرقرطبی، ټوک۵، مخ۱۳۳.
۲. المغني، ابن قدامه، ټوک۷، مخ۵۷۱.

زبیر وېنا کوله او ویل چې: «الا و انّ المتعة هی الزنا؛ خبر شئ چې «متعه» هماغه «زنا» ده.»[۱]

بل کس د متعې د حرام والي حمایت کوونکے: ابن صفوان دے، د هغه حدیث وروسته راځي.

بل کس: عبداللّه بن عمردے چې دوې نظریات لري چې تفصیل به یې وروسته راشي په دې اړه د دویم خلیفه د پېروکارو او مخالفانو تر مینځ لانجې او نښتې راپېښې شوې چې له هغو ځینو ته اشاره کوو:

الف- د موافقانو او مخالفانو تر مینځ اختلاف

د متعې د «حلال والي» په اړه، ابن عباس او د مخالفانو یوې ډلې لکه ابن زبیر، تر مینځ لانجې او مناظرې شوې دي چې تفصیل یې لاندې بیانوو.

مسلم په خپل صحیح کښې او بیهقی په خپل سنن کښې له عروة بن زبېر روایت نقلوي چې وې ویل: په مکه کښې

۱. مصنف ابن ابی‌شیبه، ټوک۴، مخ۲۹۳، فی نکاح المتعة و حرمتها.

عبدالله بن زبیر پاڅېد او وې ویل: «هغه خلق چې خدا ے د هغوي زړونه د هغوي د سترګو په شان ړاندهٔ کړي دي هغه کسان دي چې د متعې په حلال والي فتوې ورکوي!» . عبدالله ابن عباس ته یې اشاره کوله چې هغه وخت هغه په سترګو معذور ؤ . ابن عباس د هغه په ځواب کښې وویل: تهٔ یو سپک سړے یې! قسم په خدا ے چې: متعه د امام المتقین (مراد یې پېغمبر اکرم ؤ) په زمانه کښې حلاله وه.» ابن زبېر وویل: «خپله دا کار وکړه په خدا ے مې قسم وي چې که داسې وکړې [متعه وکړې] نو په خپلو کاڼو سره به دې سنګساروم.»

ابن شهاب وائي: «خالد بن مهاجر بن سیف ما ته خبر راکړ چې زهٔ له یو کس سره ناست ؤم چې بل کس هغه ته راغے او د متعې حکم پوښتنه یې ترې وکړه هغهٔ د دې کار د تر سره کولو حکم ورکړ. نو ابوعمره انصاري هغهٔ ته وویل: لږ رو!

هغه وویل: ولې؟ قسم په خدا ے چې د امام المتقین په زمانه کښې مو دا کار تر سره کړے دے.»[1]

له سعید بن جبیر روایت نقلوي چې وې ویل: «وامې وربدل چې عبدالله بن زبیر خطبه لوستله او په ابن عباس یې د متعې د حلالوالي په وجه نیوکه او اعتراض کوۀ، او د هغه تحقیر او سپکاوے یې کوۀ.» ابن عباس وویل: «که ربنتیا وائې نو له خپلې مور پوښتنه وکړه.» عبدالله له خپلې مور وپوښتل نو ځواب یې واوریدۀ چې هو،ابن عباس ربنتیا وائي همداسې وو.» ابن عباس وویل: «که وغواړم نو د قریشو د داسې کسانو نومونه به واخلم چې د متعې په وسیله دنیا ته راغلي دي.»[2]

---

۱. صحیح مسلم، مخ۱۰۲۲، حدیث ۲۷، باب نکاح المتعة؛ سنن بیهقی، ټوک۷، مخ۲۰۵؛ په مصنف عبدالرزاق کښې د ابی عمره انصاری احتجاج، ټوک۷، مخ۵۰۲.
۲. شرح معانی الآثار، طحاوی، باب نکاح المتعة...

 څرګنده ده چې دا خبرې اترې باید، په مکه کښې د عبد الله بن زبېر د حکومت وخت کښې تر سره شوې وي کوم وخت چې د جَمعې او د جُمعې نمونځ په بیت الله الحرام کښې ادا کېدهٔ، او قوي ګومان کیږي چې دا خبرې اترې هم د جُمعې د خطبې په مینځ کښې شوې وې او زیاتره مسلمانانو به اوریدلې وي، ځکه چې زمونږ په نظر ابن عباس داسې کس نهٔ ؤ چې هغه د عبدالله بن زبیر په نورو جلسو او وېناو کښې شتون لرهٔ،بې د جُمعې له نمانځه چې په هغهٔ کښې ګډون ته مجبور ؤ.

او دا هم، په بشپړه توګه روښانه ده چې د زبېر زوے او د هغهٔ واکمنه ډله یعنې د خلافت واکمنې ډلې له رسول اللهﷺ څخه د متعې په حراموالې هیڅ ډول سند او حدیث یا تائید نهٔ لرهٔ، که چرې ورسره وې نو هغوي به د ابن عباس د پریکنده او مضبوط دلیل (چې ویل بې متعه د رسواللهﷺ په زمانه کښې حلاله وه او خلقو کوله) په وړاندې، هغه سره استناد او استدلال کوهٔ.

خو، د واکمنې ډلې، چې تر اوسه پورې هم د زور په بنیاد «متعه حج او متعه نساء» حرام بلې په خلاف، د متعې د حلالوالي عقیده لرونکو تل بلکې کله چې یې فرصت په لاس راغلی د پیغمبراکرمﷺ په سنتو سره یې په هغوي استناد او استدلال کړے دے او خپل دلیلونه یې بیان کړي دي او هیڅ کله یې هم له زوره کار نه دے اخیستے او منطق او عقل یې نه دے پریښے.

په صحیح مسلم او مسند احمد بن حنبل او طیالسي او سنن بیهقي او څو نورو کتابونو کښې له ابی‌نضرة روایت نقل شوے دے چې وائي: « جابر بن عبدالله سره ؤم چې یو سړے هغهٔ ته راغے او وې ویل چې: ابن عباس او ابن زبیر د «متعه حج او متعه نساء» په حقله اختلاف کړے دے.» جابر وویل: «مونږ تولو به هغه (متعې) د پیغمبراکرمﷺ په

زمانه کښې کولې بیا عمر ؤ چې مونږ یې له متعې منعې کړوو او بیا مو نه ده کړې.»[۱]

په بل روایت کښې وائي: «جابر ته مو وویل: ابن زبېر «عارضي وادۀ» ممنوع او ابن عباس د هغۀ د کولو حکم ورکوي.» جابر وویل: «حدیثونه زۀ نقلوم مونږ به د پېغمبراکرمﷺ په زمانه کښې متعه کوله. کله چې د عمر خلافت شروع شو نو هغۀ خطبه ورکړه او وې ویل: خدا ے د خپل پېغمبرﷺ لپاره چې څه وغوښتل حلال کړي او قران په خپلو ځایونو او مقامونو کښې نازل شوے دے خو اوس مهال تاسو خپل «حج» له خپلې «عمرې» جدا کړئ او له ښځو سره له (عارضي) ودونو ډډه وکړئ که داسې کس یې

۱. صحیح مسلم، مخ۱۰۲۳، حدیث ۱۴۰۵، باب نکاح المتعة؛ مسند احمد، ټوک۱، مخ۵۲، په عبارت کښې لږ شان اختلاف سره او ټوک۲، مخونه ۳۲۵ او ۳۲۳، کښې یې خلاصه؛ سنن بیقهی، ټوک۷، مخ۲۰۲؛ شرح معانی الأخبار، مخ۴۰۱ او کنز العمال، ټوک۸، مخونه ۲۹۳ او ۲۹۴.

ما ته راوستۀ چې هغه متعه کړې وي نو زۀ به هغه سنګساروم.»[۱]

دا روایت په بیهقی کتاب کښې داسې راغلے دے: «مونږ د پېغمبراکرمﷺ او ابوبکر زمانه کښې «متعه» کوله.کله چې عمر بن خطاب خلافت ته ورسېد نو وې ویل: پېغمبراکرمﷺ هماغه رسول اللّهﷺ او قرآن هماغه قرآن دے. او دا دوه «متعې» دي چې د پېغمبر اکرمﷺ په زمانه کښې تر سره کیدې خو زۀ یې [اوس] ممنوع کوم او که چا تر سره کړې نو هغه ته به سخته سزا ورکوم چې له هغو دوو یوه «متعه نساء» ده که داسې څوک مو ولیدل چې یوې ښځې سره یې متعه کړې وي هغه به سنګساروم او په کاڼو کښې به یې ښخوم، بله متعه د حج «متعه» ده خپل حج له

۱. صحیح مسلم، مخ۸۸۵، حدیث ۱۴۵، باب المتعة بالحج؛ مسند طیالسي، مخ۲۴۷، حدیث ۱۷۹۲؛ احکام القرآن جصاص، ټوک۲، مخ۱۷۸؛ تفسیر سیوطي، ټوک۱، مخ۳۱۲؛ کنزالعمال، ټوک۸، مخ۲۹۴؛ تفسیر فخر رازي، ټوک۳، مخ۳۲.

خپلې عمرې جدا کړئ دې کار سره د تاسو حج او عمره بشپړيږي.»[۱]

ب- د ابن عباس او نورو تر مينځ اختلاف

په مصنف کښې عبدالرزاق وائي: [ابن] صفوان وويل: « دا ابن عباس خو د زنا فتوا ورکوي.» ابن عباس وويل: «زۀ هيڅ کله د زنا فتوا نه ورکوم ايا د ابن صفوان، ام اراکه هيره شوې ده؟ قسم په خداے چې د هغې زوے د متعې پېداوارد ے. نو آيا هغې چې د بني جمع د قبيلې يو سړي سره متعه کړې وه، ايا هغه زنا وه؟»[۲]

---

۱. سنن بيهقي، ټوک۷، مخ۲۰۲.

۲. مصنف د عبدالرزاق، ټوک۷، مخ۴۹۸، باب المتعة. له دې جملې«د جمح يو سړے» څخه د ابن عباس مراد، سلمة بن اميه دے. په عبارت کښې صفوان نوم راغلے چې سم يې ابن صفوان دے. لکه څنګه چې په دويم روايت کښې راغلے دے، ځکه چې صفوان وړاندې له دې په مکه کښې په حق رسيدلے ؤ او د متعه په حقله د ابن عباس بحثونه او مناظرې د عبدالله ابن زبير په زمانه کښې وې.

په بل روایت کښې راغلي دي چې طاووس وائي: ابن صفوان وویل: «ابن عباس د زنا فتوا ورکوي!» راوي وائي: ابن عباس له متعې څخه د پېدا شویو څو کسانو نومونه واخېستل خو زما یوازې د معبد بن امیه نوم یاد دے.»[1]

معبد سلمه بن امیه څوک دے؟

په یو روایت کښې مو ولیدل چې ابن عباس وویل: «امیرالمؤمنین عمر په دې کار (د متعې په حرام والي) ام اراکه وهڅوله. هغه یوه ورځ بهر راووته حال دا چې حامله وه عمر له هغې علت وپوښتۀ. هغې ځواب ورکړ چې سلمة بن امیة بن خلف هغې سره متعه «عارضي نکاح» کړې ده.» په همدې خاطر کله چې ابن صفوان د ابن عباس نظر او خبره غلطه او ناخوښه وګڼله، نو ابن عباس ورته وویل چې: له خپل ترۀ پوښتنه وکړه.!»[2]

---

۱. مصنف عبدالرزاق، ټوک۷، مخ۴۹۹.
۲. هماغه.

د ابن حزم په جمهره انساب کتاب کښې راغلي دي چې: «د امية بن خلف جحمی څو بچيان په دې نومونو، علی، صفوان، ربيعه، مسعود او سلمة لرل چې معبد بن سلمه د همدې سلمة بن امية بن خلف زوے ؤ او د مور نوم يې ام اراکه وه، چې سلمه د عمر په خلافت يا د ابو بکر د خلافت په زمانه کښې له هغې(ام اراکه) سره متعه وکړه او له دې متعې يې معبد بن سلمه وزيږېد.»[1]

ليکوال وائي: «زما په نظر صفوان بن اميه د همدې ابن صفوان پلار دے او چونکه صفوان د سلمة بن اميه ورور ؤ، نو ځکه ورته ابن عباس وويل چې: «له ترۀ دې پوښتنه وکړه!» او دا يې هم ورته ويلي وو چې: آيا ام اراکه دې هېره شوې ده؟ قسم په خدا ے چې د هغې زوے يعنی معبد بن سلمه د ابن صفوان د ترۀ زوے له همدې متعې «عارضې وادۀ» څخه دنيا ته راغلے دے نو ايا هغۀ زنا کړې ده؟ او

١. جمهره انساب، ابن حزم، مخونه ١٥٩ ـ ١٦٠.

کوم کسان چې د متعې پېداوار دي هغه يې وشمېرل، نو دا «معبد» يې هم په هغوي کښې حساب کړ.»

ج- له ابن عباس سره د عبدالله بن عمر اختلاف

د متعې په حقله، له عبدالله بن عمر مختلف روايتونه رارسيدلي چې ځينې پکې په دا ډول دي:

احمد بن حنبل په خپل مسند کښې له عبدالرحمان بن نعيم اعرجي روايت نقلوي چې وې ويل: ابن عمر سره ؤم چې يو سړي له هغه نه د متعې په اړه پوښتنه وکړه، عبدالله غصه شو او وې ويل: «قسم په خداے چې مونږ د پېغمبراکرمﷺ په زمانه کښې زنا کار او بدکاره نۀ وو...»[1]

---

۱. مسند احمد، ټوک۲، مخ۹۵، حديث ۵۶۹۴ او ټوک۲، مخ۱۰۴، حديث ۵۸۰۸؛ مجمع الزوائد، ټوک۷، مخونه ۳۳۲ او۳۳۳. او هم دا رنګ په ټوک۴، مخ۲۲۵ کښې، له ابن عمر روايت نقلوي چې: له هغۀ د متعې په حقله پوښتنه وشوه، هغه وويل: حرامه ده. ورته وويل شول چې: ابن عباس خو متعه حلاله ګڼي. هغۀ وويل چې: قسم په خداے چې ابن عباس خبر دے چې

عبدالرزاق په مصنف کښې وائي: «ابن عمر ته وويل شول چې: ابن عباس خو د متعې [عارضي وادۀ] اجازه ورکوي.» هغۀ وويل: «ګومان نه لرم چې ابن عباس داسې ووائي.» وويل شول: «قسم په خدا ے چې داسې وائي.» عبدالله وويل: «آګاه او خبر شئ! چې قسم مې دې په خدا ے وي چې هغۀ د عمر د خلافت په وخت کښې داسې نشو ويلې، او عمر تۀ په کلکه له دې کاره منعې کولې او زۀ متعه «زنا» ګڼم.»[1]

د ابن ابي‌شيبه په مصنف او په درالمنثور، او سيوطی کښې روايت نقل شوے دے چې: «له عبدالله بن عمر نه د «متعه نساء» [عارضي وادۀ] په حقله پوښتنه وشوه، وې ويل: «حرامه ده.» ورته وويل شول چې: «ابن عباس خو د متعې

پېغمبراکرم په خيبر کښې هغه ممنوع کړې ده او مونږ خو زناکار نۀ يوو. د مجمع الزوائد ليکوال وائي: طبراني دا روايت نقل کړے چې سند کښې منصور بن دينار ضعيف کس دے. ليکوال وائي: څرګنده ده چې هغۀ د ابن عمر حديث تحريف کړے دے.

۱. مصنف عبدالرزاق، ټوک۷، مخ۵۰۲.

په حلالوالي فتوا ورکوي.» وې ویل: «نو بیا دا خبره یې ولې د عمر په زمانه کښې نۀ کوله؟»[۱]

په سنن بیهقي کښې د «حرام» ټکي نه وروسته وائي: «عمر بن خطاب که په دې خاطر ځوک نیولے وې نو هغه به یې سنګسارولے.»[۲]

## ۹- په ورست وختونو کښې د متعې په حقله د خلفاؤ د مکتب د پېروکارو په موقف کښې بدلون

لکه څنګه چې مو ولیدل چې د ابن زبېر ترحکومته پورې، د متعې د حراموالي په اړه د خلفاؤ د مکتب د پیروکارو د دریځ او موقف محور او چورلیز زور او طاقت ؤ. د دې مکتب پېروکارو له دې وروسته خپل موقف بدل کړ او د جعلي حدیثونو جوړولو او تحریفولو ته یې مخه کړه. چې ځونمونو ته یې اشاره کوو:

۱. مصنف ابن ابی‌شیبه، ټوک۴، مخ۲۹۳. تفسیر سیوطی، ټوک۲، مخ۱۰۴، حدیث ۵۸۰۸.
۲. سنن بیهقی، ټوک۷، مخ۲۰۲.

الف- په سنن بیهقي کښې وائي: ابن عباس د متعې «عارضي وادۀ» په حلالوالي فتوا ورکوله خو د علم خاوندانو د هغۀ دا کار (محکوموۀ) او هغه یې ملامتوۀ خو ابن عباس به له دې خبرو لاس نۀ اخېستو او هغوي ته نۀ تسلیمدۀ ان تر دې چې یو شاعر د هغه دغه فتوا په خپلو شعرونو کښې وستائیله:

«یا صاحِ هَل لَکَ في فُتْیا ابنِ عبّاسٍ

هَل لکَ في ناعمٍ خُودٍ مُبَتَّلةٍ

تَکُون مَثواکَ حتّی مَصدرُ النّاس»

وائي: «د علم خاوندانو چې کله دا شعرونه واوریدل نو له «متعه» یې بیزاري نوره هم زیاته شوه او هغه یې یو ناخوښ کار وبلۀ».[۱]

د عبدالرزاق په مصنف کښې له زهري روایت نقلوي چې وې ویل: «کله چې شاعر دا شعر ووایۀ چې: (یا صاح هل لك فی

۱. سنن بیهقی، ټوک۷، مخ۲۰۵.

فتيا ابن عباس)، نو پوهانو دا کار «عارضي وادۀ» نور هم، کرکجن او منفور وبلۀ».[۱]

په دې روايت کښې راغلي چې: «ابن عباس هيڅ کله هم د متعې د «حلالوالي» په اړه غلے پاتې نه شو. حتى چې د خلقو او د شاعرانو ملامتيا هم هغه له دې کاره منعې نۀ کړ.»

ب- تير روايت يې تحريف کړ او د سعيد بن جبير له قوله يې داسې نقل کړ چې هغه ويلي دي چې: «ابن عباس ته مو وويل: ايا پوهيږې چې څه فتوا د ورکړې ده؟ ستا فتوا خلقو لرې لرې ځايونو ته رسولې ده او شاعرانو د هغه په حقله شعرونو ليکلي دي!»

وې ويل چې: «څه يې ويلي دي؟» ورته مو وويل:

«ويلي يې دي چې:

قَد قُلتُ لِلشَّيخِ لمّا طالَ مَجلسَهُ

---

۱. مصنف عبدالرزاق، ټوک۷، مخ۵۰۳.

يا صاحِ هَل لَكَ في فُتْيا ابنِ عبّاسِ
مولوي ته مو وويل چې ولې د وينا
اوږده کړه
ايا د ابن عباس فتوا درله ! بس او کافي نۀ وه؟
ابن عباس وويل: «انّا لله و انا اليه راجعون قسم په خدا ے چې ما په دې اړه فتوا نه ده ورکړې او دا مو اراده هم نۀ وه کړې ما خو يوازې متعه دومره حلاله کړې چې لکه څنګه خدا ے پاک په خپل کتاب کښې له «مردار او وينې او د خنزير له غوښې» حلاله کړې ده.»[1]

د ابن قدامه په مغني کښې راغلي دي چې وائي: هغه (ابن عباس) پاڅېد او وې ويل چې: «متعه [عارضي وادۀ] هم لکه د مردار او وينې او د خنزيرد غوښې هومره (د ضرورت په وخت) حلاله وي، خو د متعې د حلالوالي په باب د پېغمبر اکرم ﷺ اجازه په يقيني توګه نسخ شوې ده.»[2]

۱. سنن بيهقی، ټوک۷، مخ۲۰۵.
۲. مغنی ابن قدامة، ټوک۷، مخ۵۷۳.

په دې روايت اعتراض

د متعې د «حلالوالي» مخالفانو، د سعيد بن جبير له قوله د دې روايت په نقلولو کښې له يو بل مخکې شوي خو دا خبره يې هېره شوې ده چې سعيد بن جبير هماغه کس ؤ چې په مکه مکرمه[۱] کښې يې متعه [ عارضي وادۀ] کړې وه. او دا يې هم هېر شوي دي چې د ابن عباس ملګري که هغه د مکې اوسيدونکي وو او که د يمن، ټولو د متعې په روا والي کښې د ابن عباس پيروي کړې ده او متعه يې روا ګڼله.[۲] او که ابن عباس چرې دا فتوا بدله کړې وې نو د هغۀ ملګري لکه عطاء او طاوس او داسې نور ملګرې به يې په دې عقيدې او نظريې باقي نۀ پاتې کېدل.[۳]

هيثمی په مجمع الزوائد کښې د دې حديث له ناسموالي پرده اوچته کړې ده او وائي: «د دې حديث په سند کښې

---

۱. مصنف عبدالرزاق، ټوک۷، مخ۴۹۲ ته مراجعه وکړئ.
۲. تفسير قرطبی، ټوک۵، مخ۱۳۳ ته مراجعه وکړئ.
۳. مغنی ابن قدامة، ټوک۷، مخ۵۷۱ ته مراجعه وکړئ.

حجاج بن ارطاة راغلے او هغه يو دهوكه باز سړے دے».[۱]
او په تهذيب التهذيب كښې د هغهٔ د ژوند په ليک كښې ليكي چې: «هغه له يحيى بن ابى كثير او مكحول ـ حال دا چې هيڅ يې هم ترې نه دي اوريدلي ـ روايتونه ترې نقل كړي دي، نو حديث پيژاندو كسانو ځكه دا يو مدلس او دهوكه باز سړے بللے دے چې د هغه په ټولو حديثونو كښې څه نه څه زياتے موجود دے».

ابن مبارك وائي: حجاج به فريبكاري او دهوكې كولې او مونږ لره به يې له عمرو بن شعيب او له عزرمي متروك حديثونه نقلول.

يعقوب بن ابى‌شيبه وائي: «د هغه [حجاج] احاديث هوائي، سست او ګډ وډ وو».[۲]

ج- ترمذي او بيهقي له موسىٰ بن عبيده او هغه له محمد بن كعب او هغه يې له ابن عباس روايت نقلوي چې هغه ويلي

۱. مجمع الزوائد، ټوک۴، مخ۲۲۵.
۲. تهذيب التهذيب، ټوک۲، مخونه ۱۹۲ـ۱۹۸.

دي چې: «متعه [ازدواج موقت] يوازې د اسلام په وړومبيو وختونو کښې وه او هغه هم داسې چې کله يو سړے به ناپيژانده وطن ته ننوتۀ نو هغه چې څومره موده هلته تيرولې نو يوې ښځې سره به يې متعه کوله او هغې ښځې به د دې سړي سامانونه له ځان سره ساتل چې په سوداګرۍ کښې کامياب شوي، ان تر دې چې دا ايت نازل شو: ﴿إِلَّا عَلَىٰٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ﴾؛[1] مګر په خپلو مېرمنو او وينځو» ابن عباس وويل: له دې دوو لمنو پرته، نورې حرامې دي.»[2]

په دې حديث اعتراض

د دې حديث په سند کښې موسىٰ بن عبيده نومې کس دے چې په تهذيب التهذيب کښې د هغۀ په حقله وائي: «احمد

---

۱. سوره مؤمنون: ۶.
۲. سنن ترمذی، ټوک۵، مخ۵۰، باب نکاح المتعه؛ سنن بيهقی، ټوک۷، مخ۲۰۶.

وائي: «د هغهٔ حدیثونه مردود او ناپیژندلي دي.» او زما په نظر د هغه د روایت او حدیث نقلول جائز نهٔ دي. ځکه چې هغه ډېر غلط او ناخوښ حدیثونه نقلوي».[۱]

د دې حدیث په متن کښې راغلي دي: «عارضي وادهٔ او متعه د اسلام په وړومبیو وختونو کښې وه ان تر دې چې دا ایت نازل شو: ﴿إِلَّا عَلَىٰٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ...﴾ او له دې دوو لمنو پرته، نورې حرامې دي.»

زه نهٔ پوهېږم ؛ که دا د ابن عباس وېنا وي، نو بیا ولې د ایت د نازلېدو څخه نیمه پیړۍ وروسته، کله چې یې عبدالله بن زبېر سره بحث او مباحثه کوله او د متعې په حلالوالي یې تاکید کوهٔ؟ له دې نه بغېر مګر متعه او «عارضي وادهٔ» د وادهٔ مصداق نه دے څه؟ او بله دا چې که چرې دا حدیث صحیح وې او ابن عباس د دې ایت له نازلیدو څخه وروسته ـ د رسول د خدا ے ﷺ په زمانه کښې خپله فتوا پرېښې وي، نو بیا کوم وخت علي﵇ هغه ته چې یې د «متعه» په

۱. تهذیب التهذیب، ټوک ۱۰، مخونه ۳۵۲ ـ ۳۲۰.

باره کښې نرمي کوله وفرمایل: «ته یو خود پسنده سړے يې؟»[۱]

د- له جابر بن عبدالله يې روایت کړے دے چې وې ویل: «کومو ښځوسره مو چې متعه «عارضي وادهٔ» کړې وه له هغوي سره بهر راووتو نو پېغمبراکرم ﷺ ولیدو او وې فرمایل: «تر قیامت ورځې پورې دوي په تاسو حرامې دي.»

نو له دې وروسته هغوي له مونږ سره خدا ے په اماني وکړه او له همدې امله هغه ځا ے د جدائۍ ځا ے ونومول شو، حال دا چې له دې وړاندې هغه ځا ے د پیوستون ځا ےؤ.»[۲]

د دې حدیث اشکال

هیثمي وائي: «دا روایت له طبراني څخه په اوسط کښې راوړل شو ے دے او د دې حدیث په سند کښې، صدقة بن

---

۱. دا روایت به په راتونکې برخو کښې په صحیح حدیثونو کښې ذکر کړو.
۲. مجمع الزوائد، ټوک۴، مخ۲۶۴؛ فتح الباری، ټوک۱۱، مخ۳۴.

عبدالله دے چې احمد بن حنبل د هغهٔ په حقله وائي: «هغه هيڅ ارزښت نه لري او د هغه ټول حديثونه مردود او ناپيژاندي دي.» او مسلم [د صحيح مسلم ليکوال] د هغه په حقله وائي: «د هغه حديثونه د منلو نه دي».[1]

ليکوال وائي: «د حديث په متن کښې راغلي دي چې جابر له رسول اللهﷺ روايت کړے دے چې هغه حضرت وفرمايل: «دوي د قيامت تر ورځې پورې حرامې دي.» حال دا چې په صحيح او متواترو حديثونو کښې له جابره روايت نقلوي چې هغهٔ ويلي دي چې: «مونږ به د پيغمبراکرمﷺ او ابوبکر او عمر په زمانه کښې، متعه کوله، ان تر دې چې عمر، د عمرو بن حريث د کار په وجه مونږ له دې کاره منعې کړو.»

ه- بيهقی په خپل سنن او هيثمي په مجمع الزوائد کښې له ابوهريره روايت نقلوي چې هغه ويلي دي چې: «له رسول

۱. د احمد او مسلم قول مو په تهذيب التهذيب، ټوک۴، مخ۴۱۲، کښې د صدقه له شرح حاله نقل کړ.

اللهﷺ سره د تبوک د غزا په لوري روان شوو، او په «ثنية الوداع» کښې کوز شووو. پېغمبراکرمﷺ ښځې وليدې چې ژړېدې. وې فرمايل: «ولې ژاړئ؟» وويل شول: «دا هغه ښځې دي چې خاوندانو ورسره «متعه» عارضي وادهٔ کړے ؤ او اوس يې پرېښې دي.» رسول الله ﷺ وفرمايل: «حرّم او هدم المتعة النكاح و الطلاق و العدّة و الميراث؛ وادهٔ، عدت او ميراث، «متعه» حرامه ـ يا نابوده ـ کړې ده.»

دا روايت په مجمع الزوائد کښې داسې دے: «رسول اللهﷺ ډېوې يې وليدې او ښځې يې وليدې چې ژړېدې.»[1]

د حديث اشکال

د دې حديث په سند کښې، مؤمل بن اسماعيل او ابوعبدالرحمن عدوي موجود دي چې په کال **۲۰۵** يا **۲۰۶** هجري کښې وفات شوي دي او په تهذيب التهذيب کښې

۱. سنن بيهقي، ټوک۷، مخ۲۰۷؛ مجمع الزوائد، ټوک۴، مخ۲۶۴؛ فتح الباري، ټوک۱۱، مخ۷۳.

وائي چې: بخاري وائي: «د هغوي حديثونه منکر او ناپيژاندي دي.» او يو بل کس ويلي دي چې: «خپل کتابونه يې خاوروکښې ښخ کړل او بيا يې [بغير د ليکلو] روايتونه نقلول. او په همدې خاطر د هغهٔ غلطۍ او تيروتنې ډيرې زياتې دي، چې کله کله خو بايد اهل علم د هغهٔ د حديث په حقله توقف وکړي (يعني هغه بالکل نقل نه کړي) ځکه چې هغه د موثقو او بااعتمادو کسانو له قوله نامعلوم او ناپيژانده حديثونه نقلوي (هغوي پورې تړي) او دا ډېره بده خبره ده ځکه چې که دا يې له ضعيفو او بې اعتماده کسانو نقلولې نو څه بهانه به مونږ سره وه خو اوس خو يې پيژندل ډېر ګرانيږي..»[1]

وايو: «د حديث په متن کښې راغلي دي چې: «هغوي په ثنية الوداع کښې راکوز شول.»او ثنية الوداع لکه څنګه چې په معجم البلدان کښې راغلي دي، يوه سنګلاخه (دکاڼو تيګو لاره) ده چې ترې مدينه ښکاري او څوک هم چې له

۱. تهذيب التهذيب، ټوک۱۹، مخونه ۳۸۰ـ ۳۸۱.

مدينې، مکې ته ځي نو له دغې لارې به تيرېږي. او وائي: «صحيح دا ده چې دا د جاهليت [له اسلامه وړاندې] او زړه نامه ده او د دې د نوم ايښودلو سبب دا دے چې مسافران، هلته وداع او خدا ے په اماني کوي.»[۱]

د دې خبرې تائيد کوونکے دا دے چې: کله پيغمبراکرمﷺ له مکې نه مدينې ته هجرت وکړ، نو د انصارو ښځې د هغۀ حضرت هرکلي او استقبال ته راغلې او دا يې ويل چې: «طلع البدر علينا فی ثنيات الوداع»[۲] په ثنيات الوداع کې مونږ ته د څوارلسمې سپوږمۍ راښکاره شوه.

په همدې وجه «ثنية الوداع» د جاهليت له وخته د خدا ے په امانۍ ځا ےۀ. او دا نوم له اسلامه مخکې وخت سره تړلے دے نه دا چې له وروسته وخت سره. له دې نه علاوه دا چې ولې يوزاې د متعې ښځې خدا ے په امانۍ لپاره بهر راووتې او د اوږد مهال وادۀ ښځې رانغلې؟ د هغوي د ژړا

۱. معجم البلدان، ماده: ثنية الوداع ته مراجعه وکړئ.
۲. الروض المعطار، حميری، ماده: ثنية الوداع ته مراجعه وکړئ.

وجه او سبب څه ؤ؟ د هغو ښځو خاوندان خو تل لپاره نۀ تلل؟

و- بیهقی له علی بن ابی‌طالب روایت کوي چې وې ویل: «رسول اللهﷺ له متعه [عارضي وادۀ] څخه نهی کوله.» وائي: «موقته وادۀ یا متعه النساء هغو کسانو لپاره وه چې د نکاح کولو وس یې نۀ لرۀ خو کله چې د وادۀ او طلاق او عدت او میراث حکم نازل شو نو د متعې حکم نسخ او ختم شو.»[۱]

د دې حدیث اشکال

د دې حدیث په سند کښې موسیٰ بن ایوب دے چې عقیلي هغه په کمزورو او «ضعفاء» راویانو کښې راوړے دے او همدار نګ یحییٰ بن معین او ساجی هغه «منکر الحدیث» بللے دے.[۲]

---

۱. سنن بیهقی، ټوک۷، مخ۲۰۷.
۲. تهذیب التهذیب، د موسیٰ بن ایوب د ژوند لیک، ټوک۱، مخ۳۳۲.

زۀ وایم: د دې حدیث په متن کښې علي ته نسبت ورکړے شوے دے چې هغه حضرت وفرمایل چې: «رسول د خدا ےﷺ «متعه» ممنوع کړه»، حال دا چې هغه حضرت فرمائي: «که د عمر تېره رایه او نظریه نه وې نو ما حکم ورکوۀ چې متعه وکړئ نو پس له هغه به، بې له بدبخته او شقي کس بل چا «زنا» نۀ کوله.»

ز- بیهقی له عبدالله بن مسعود نه روایت کوي چې وې ویل: «متعه منسوخ شوے ده او طلاق، مهر،عدت او میراث هغه نسخ کړې ده.»

په دې حدیث نیوکه

د دې حدیث په سند کښې یو کس حجاج بن ارطاه چې هغه له حَکم او هغه د عبدالله له ملګرو څخه دے چې پیژنګلي یې تېره شوه چې په حقله یې ویلي شوي وو چې: «هغه فریبکار دےاو حدیثونه اخېستل ترې پرېښودې شوي دي او هغه په حدیثونو کښې له ځانه ورزیاتوي.» په دې سربېره مونږ نۀ پوهیږو چې حَکم د عبد الله له کوم یو ملګري روایت کړے دے؟

او په بل روایت کښې راغلي دي چې: «مونږ ځينو ملګرو له حکم بن عتيبه چې هغه له عبدالله بن مسعود څخه» خو مونږ نه پوهيږو چې دا «ځينې ملګري او اصحاب» څوک دي، او حکم بن عتيبه چې په کال (۱۱۳ هجري) يا له هغه هم وروسته په حق رسيدلے دے او يوازې څو شپيتۀ عمر يې لرۀ هغه څنګه له عبدالله بن مسعوده روايت نقل کړے دے حال دا چې هغه په کال (۳۲ هجرى) کښې وفات شوے دے؟[1]

په دې سربېره، د حديث متن د متعې په حليت کښې د عبدالله بن مسعود له مسلم نظر او د دې ايت: ﴿فَمَا ٱسْتَمْتَعْتُم بِهِۦ مِنْهُنَّ إِلَىٰٓ أَجَلٍ﴾ په اړه د هغۀ له تفسير او قرائت سره تضاد لري.[2]

۱. تقريب التهذيب، ټوک۱، مخونو ۱۹۲ او ۴۵۹ ته مراجعه وکړئ.
۲. د «هغه کسانو چې د عمر نه پس يې د متعې په حلالوالي تاکيد وکړ» برخې ته مراجعه وکړئ.

بله دا چې د حدیث په متن کښې: (ه ـ و ـ ز) راغلي وو یعني دا چې: «نکاح، طلاق، عدت او میراث، متعه [عارضي وادۀ] حرامه یا نابوده او یا نسخ کړې ده.» د دې جملې مطلب دا شو چې، متعه «عارضي وادۀ» له دائمي نکاح او ورسره تړلي څیزونو نه وړاندې په شریعت کښې راغلې وو او دا چې د اوږد مهاله وادۀ تر راتلو پورې، متعه «عارضي وادۀ» په شریعت کښې په ځاے وه( برقراره وه) او د وادۀ په سبب نسخ شوې ده نو د دې خبرې لازمه دا راځي چې، د پیغمبر اکرم ﷺ او د ټولو اصحابو ودونه وړومبې ـ یعني د دائمي وادۀ د حکم د نازلیدو تر وخته پورې متعه او «عارضي ودونه» وو!»

ح- په مجمع الزوائد کښې له زید بن خالد جهنی روایت کیږي چې وائي: «زۀ او زما ملګرې یوې ښځې سره د متعې کولو لپاره په سودا جوړولو وو چې یو بل سړے راغے او مونږ ته یې وویل چې: «رسول الله ﷺ متعه «عارضي وادۀ» حرام کړے دے، او هم دا رنګ د هر هغه حیوان

غوښه، چې وحشي وي او لشه وهي او کورنۍ خر يې حرام کړي دي.»[۱]

په دې حديث هم اعتراض

هيثمي وائي چې: «دا حديث له طبراني نقل شوے دے او په هغه سند کښې «موسیٰ بن عبېده ربذي» ضعيف راوي دے.»[۲] او د هغهٔ د ضعف او کمزورتيا په حقله زمونږ نظر تېر شو.

د دې حديث له متن څخه داسې تر لاسه کېږي چې د دې روايت راوي د مکې فتحې په حقله د سبره جهنی روايت او د خېبر په ورځ بل روايت ګډوډ کړے دے او د حرامو غوښو څناورو حکم يې ورزيات کړے دے او ټول يې په يو سند او يو ترکيب سره ذکر کړي دي.

۱. مجمع الزوائد، ټوک۴، مخ۲۲۲.
۲. هماغه.

ط- په مجمع الزوائد کتاب کښې له حارث بن غزیه روایت کوي چې وې ویل: «وامې ریدل چې پېغمبر اکرم ﷺ د مکې د فتحې په ورځ درې ځل وفرمایل چې:

«ازدواج موقت یا متعه حرامه ده.»[۱]

د دې حدیث مشکلات

هیثمي وائي چې: «طبراني دا روایت نقل کړے دے او په دې سند کښې اسحاق بن عبداللّه بن ابي‌فروه شته.»[۲] او نورو حدیث پیژاندو پوهانو د هغهٔ په حقله ویلي دي چې: «د هغهٔ نقل کړې شوي حدیثونه د منلو نهٔ دي او هغه ناپیژانده روایتونه نقلوي، د هغه په حدیثونو سره استناد او استدلال نه کیږي او هغه یې پرېښے دے. او له هغهٔ روایت نقلول روا نهٔ دي او د هغهٔ حدیثونه لیکلې نهٔ شي وغیره....»[۳]

---

۱. هماغه.

۲. هماغه.

۳. تهذیب التهذیب، ټوک۱، مخ۲۴۰، د اسحاق ژوند لیک.

ی) په مجمع الزوائد کتاب کښې له کعب بن مالك نه روايت کیږي چې وې ویل: «رسول اللهﷺ له متعه نساء [عارضي وادهٔ] نهې کړې ده.» هیثمی وائي: «طبراني دا روایت کړے دے او د دې حدیث په سند کښې یې یحییٰ بن انیسه راغلے دے.»[۱] او حدیث شناسو د هغهٔ په حقله ویلي دي چې: «هغه یو بې اعتماده او ضعیف کس دے، د حدیث خاوندان د هغهٔ حدیثونه نهٔ لیکي او د هغهٔ حدیثونه ډیر دروغ دي او نقلول یې ترک او پریښودل شوي دي...»[۲]

ك- بیهقي په خپل سنن کبریٰ کښې له عبدالله بن عمر روایت کوي چې وې ویل: «عمر پر منبر اوختهٔ، د خدائے له حمد او ثنا نه پس یې وویل: په هغو کسانو څه شوي دي چې متعې کوي، حال دا چې پیغمبر اکرمﷺ له متعې نهی کړې

۱. مجمع الزوائد، ټوک۴، مخ۲۶۲، سره د راوي نوم.
۲. تهذیب التهذیب، ټوک۱۱، مخونه ۱۸۳ او ۱۸۴ د یحیی بن انیسه د ژوند لیک.

ده، خبر شئ! که څوک یې د متعې کولو په وجه ماته راوستل نو زهٔ به یې سنګساروم.[۱]

د دې حدیث اشکال

د دې حدیث په سند کښې منصور بن دینار راغلے دے. او یحیی بن معین هغه په حقله وائي چې: «د هغهٔ حدیثونه ضعیف دي.» نسائي وائي: [د هغهٔحدیث] ټینګ او د باور وړ نهٔ دے. بخاري وائي: «د هغهٔ په حدیثونو کښې د بحث ځاے شته یعني خلل پکښې شته» او عقیلي هغه په «ضعیفو» راویانو کښې ذکر کړے دے.[۲]

تر دې ځایه پورې مو هغه حدیثونه بیان کړل چې د علم رجال پوهانو او د حدیث پیژاندو کسانو د تعریف په مطابق د هغو حدیثونو په سند اعتراض او اشکال و. په راتلونکې برخه کښې هغه حدیثونه راوړو چې د خلفا د مکتب د

۱. سنن بیهقی، ټوک۷، مخ۲۰۶.
۲. الجرح و التعدیل رازي، ټوک۴، وړومبی برخه، مخ۱۷۱؛ میزانالاعتدال ټوک۴، مخ۱۸۴؛ لسان المیزان، ټوک۲، مخ۹۵.

پوهانو په نزد یا په صحاح سته کښې راغلي او یا د هغو د سندونو په سموالي کښې څه ضعف او اشکال نۀ لري او ټول اهل تسنن حدیث شناس هغه مني.

وړومبے حدیث: په صحیح مسلم، سنن نسائي، بیهقی او د عبدالرزاق په مصنف[1] کښې له شهاب زهري او هغه یې له عبدالله او حسن څخه چې د محمد بن علي زامن دي او هغو یې له خپل پلار چې هغۀ له علی بن ابی‌طالب اوریدلي چې ابن عباس ته یې ویل: «تۀ ډېر خود پسنده سړے یې! رسول الله ﷺ د فتح خیبر په ورځې له متعې [عارضي وادۀ] او د کور ساتلي خرۀ له غوښې خوړلو څخه نهي کړې ده.»[2]

دا روایت په هم دې سند سره، د عبارت لږ شان اختلاف سره، په صحیح بخاري، سنن ابي‌داود، ابن ماجه، ترمذي،

---

۱. دا عبارت د مصنف دے.
۲. صحیح مسلم، مخ۱۰۲۷، باب نکاح المتعة؛ سنن نسائی، باب تحریم المتعة؛ سنن بیهقی، ټوک۷، مخ۲۰۱؛ مصنف عبدالرزاق، ټوک۷، مخ۵۰۱؛ مجمع الزوائد، ټوک۴، مخ۲۶۵.

دارمي، موطّأ مالك، مصنّف ابن ابی‌شیبه، مسند احمد بن حنبل او طیالسي او ځو نورو کتابونو کښې هم، راغلے دے.[۱]

دویم حدیث: له ابوذر روایت کیږي چې وې ویل: «عارضي وادۀ» یا متعه زمونږ لپاره یعنې د رسول الله‌ﷺ د اصحابو لپاره یوازې درې ورځې حلاله وه او بیا پیغمبراکرمﷺ

۱. صحیح بخاري، ټوک۳، مخ۳۲، باب د خیبر غزا او ټوک۳، مخ۱۲۴، باب نهي رسول اللّه عن نکاح المتعة اخیرا، او باب لحوم الحمر الانسیه، ټوک۳، مخ۲۰۸ او ټوک۴، مخ۱۳۵، باب الحیلة فی النکاح؛ سنن ابی‌داود، ټوک۲، مخ۹۰؛ سنن ابن ماجه، ټوک۱۳، حدیث ۱۹۲۱؛ سنن ترمذي، ټوک۵، مخونه ۴۸ او ۴۹؛ موطأ مالك، مخ۵۴۲، حدیث ۴۲، له باب نکاح المتعة؛ مصنف ابن ابی‌شیبه، ټوک۴، مخ۲۹۲؛ سنن دارمی، ټوک۲، مخ۱۴۰؛ مسند طیالسی، حدیث ۱۱۱؛ مسند احمد، ټوک۱، مخونه ۷۹ او ۱۳۰ او ۱۴۲ او فتح الباری، په تیر شویو بابونو کښې.

ترې نهي وکړه او هغه يې حرامه کړه.»[۱] او دا چې وې ويل: ((عارضي نکاح)) زمونږ د ويرې او د جنګ(وختونو) لپاره وه.»[۲]

دريم حديث: په صحيح مسلم، سنن دارمي، ابن ماجه، ابي‌داود او نورو کتابونو کښې له سبره جهني، چې د مکې د فتحې په ورځ له پېغمبراکرم ﷺ سره ؤ، روايت کوي چې وې ويل: «په مکه کښې مو پينځلس ورځې تېرې کړې. پيغمبراکرم ﷺ مونږ ته اجازه راکړه چې متعه «عارضي وادهٔ» وکړوو. زهٔ او زمونږ يو خپلوان بهر وتوو زهٔ لږ ښکلے او زما ملګرے ښکلے نهٔ ؤ. مونږ دواړو سره يوه يوه عبا (يمني څادر) وه زما څادر زوړ او زما د ترهٔ د زوے څادر نوے ؤ، د مکې کوزه او يا پاس لوري ته روان وو چې يوه ښکلې پېغله راسره مخامخ شوه هغې ته مو وويل چې ايا په مونږ دواړو کښې يو کس سره متعې ته تياره يې؟ وې ويل

۱. سنن بيهقي، ټوک۷، مخ۲۰۷.
۲. هماغه.

چې په مهر کښې څه راکوئ؟ مونږ دواړو خپل څادرونه ورښکاره کړل نو هغې څادرونو ته کتل نو زما ملګري ورته وويل چې زما څادر نوے او د دۀ څادر زوړ دے نو هغې ورته ځواب ورکړ چې د دۀ څادر هم کوم عيب نه لري. او دا خبره يې درې يا دوه ځله تکرار کړه نو بيا مې هغې سره متعه وکړه. او زۀ په مکه کښې ؤم چې پېغمبراکرمﷺ متعه حرامه کړه.»[1]

په بل روايت کښې داسې وائي: «رسول اللهﷺ وفرمايل چې: «اے خلقو! ما په خپله تاسو ته د متعې د کولو اجازه درکړه خو اوس خدا ے تعالیٰ هغه تر قيامت ورځې پورې په تاسو حرامه کړه.»[2]

۱. صحيح مسلم، مخ۱۰۲۴، باب نکاح المتعه؛ مجمع الزوائد، ټوک۴، مخ۲۶۴؛ سنن بيهقى، ټوک۷، مخ۲۰۲.
۲. صحيح مسلم، مخ۱۰۲۵، سنن دارمي، ټوک۲، مخ۱۴۰؛ سنن ابن ماجه، مخ۶۳۱، حديث ۱۹۶۲؛ طبقات ابن سعد، ټوک۴، مخ۳۴۵.

او په بل روایت کښې وائي: «ومې لیدل چې پېغمبراکرمﷺ د رکن [کعبه] او مقام [ابراهیم] تر مینځ ؤدرید او وې فرمایل چې......»[1]

او په بل روایت کښې وائي چې: «رسول د خدا ےﷺ د مکې د فتحې په کال کښې، چې کله مونږ مکې ته داخل شوونو حکم یې راکړ چې متعه وکړئ او لا په مکې کښې وو چې بیا یې له دې کار منعې کړو.»[2]

او په بل روایت کښې وائي: «ما د پېغمبراکرمﷺ په زمانه کښې د بني عامر د قبیلې له یوې ښځې سره متعه وکړه او دوه سرۀ څادرونه مې ورله په مهر کښې ورکړل. او بیا

۱. صحیح مسلم، مخ۱۰۲۵؛ مصنف ابن ابی‌شیبه، ټوک۴، مخ۲۹۲.
۲. صحیح مسلم، مخ۱۰۲۵؛ سنن بیهقی، ټوک۷، مخونه ۲۰۲ او ۲۰۴.

پېغمبراکرمﷺ مونږ له متعې [عارضي وادهٔ] منعې کړو.»[1]

او په بل روایت کښې وائي: «رسول اللهﷺ د مکې د فتحې په موقع له «متعه نساء» [عارضي وادهٔ] څخه نهي وفرمایله.»[2]

او په بل روایت کښې وائي: «رسول اللهﷺ له «متعه» نهي وکړه او وې فرمایل چې: «متعه له نن ورځې نه تر قیامته پورې حرامه ده.»[3]

او په سنن ابی‌داود او بیهقی کښې له ربیع بن سبره روایت کوي چې وې ویل: «ګواهی او شهادت ورکوم چې پلار مې

---

۱. صحیح مسلم، مخ۱۰۲۷؛ سنن بیهقی، ټوک۷، مخ۲۰۵.
۲. صحیح مسلم، مخ۱۰۲۸؛ مصنف ابن ابی‌شیبه، ټوک۴، مخ۲۹۴.
۳. صحیح مسلم، مخ۱۰۲۷ او له زیاتې شرحې او تفصیل سره په مصنف عبد الرزاق، ټوک۷، مخونه ۵۰۲؛ سنن بیهقی، ټوک۷، مخ۲۰۳.

دا حدیث نقلوۀ چې، رسول د خدا ےﷺ د «حجة الوداع» (د خپل عمر ورستي حج) په موقع متعه ممنوع کړه.»[۱]

ځلورم حدیث: په صحیح مسلم، مصنف ابن ابی‌شیبه، مسند احمد بن حنبل او داسې نورو کتابونوکښې له سلمه بن اکوع روایت کوي چې وې ویل: «رسول اللهﷺ په «اوطاس» کال کښې متعه او عارضي وادۀ یوازې درې ورځې ازاد او حلال کړے ؤ او بیا یې هغه ممنوع کړ.»[۲]

### ۱۰- د دې حدیثونو علتونه او اشکالات

۱. د امام علي‌؈ په حدیث کښې چې د حدیثو اهمو کتابونو لکه صحاح سته او مسانید او سنن او مصنفاتو

---

۱. سنن ابی‌داود، ټوک۲، مخ۲۲۷، باب نکاح المتعة؛ سنن بیهقی، ټوک۷، مخونه ۲۰۴ او ۲۰۵؛ طبقات ابن سعد، ټوک۴، مخ۳۴۸.
۲. صحیح مسلم، مخ۱۰۲۳، حدیث ۱۴۰۵؛ مصنف ابن ابی‌شیبه، ټوک۴، مخ۲۹۲؛ مسند احمد، ټوک۴، مخ۵۵؛ سنن بیهقی، ټوک۷، مخ۲۰۴؛ فتح الباری، ټوک۱۱، مخ۷۳.

نقل کړے دے او مونږ هم هغه، له څوارلسو سرچینو راوړۀ نوپه دې کښې بیان شوي دي چې پېغمبراکرمﷺ په خیبر غزا کښې «دوه څیزونه» حرام کړل: الف) نکاح متعه [عارضي وادۀ]؛ ب) د کورني خرۀ د غوښې خوړل.

په خیبر کښې د متعې د حراموالي په اړه دا یوازنے حدیث دے، حال دا چې په خیبر کښې د کورني خرۀ د غوښې حرامیدل په څو حدیثونو کښې راغلي دي، چې په هغو نورو حدیثونو کښې یوازې د خرۀ د غوښې حراموالې څخه پرته د متعې ذکر پکښې نیشته. په راتلونکې برخې کښې دا دوه ډوله حراموالې جاجوو:

الف- په خیبر کښې د متعې حراموالے

د پېغمبراکرمﷺ لخوا، په خیبرکښې د متعې «عارضي وادۀ» حراموالے، د هغې ورځې د تاریخې حقیقت او واقعیت سره سمون نۀ لري. لکه چې څو پوهان په دې حقله روښانه بیان لري لکه ابن قیم.

ابن قیم د خپل کتاب زاد المعاد «د متعې د حراموالي وخت» برخه کښې وائي: «په فتح خیبر کښې یو صحابي هم

یهودي ښځو سره متعه ونۀ کړه، او په دې اړه یې له پېغمبراکرمﷺ اجازه هم وانۀ خېسته، او هیچا هم د خېبر غزا په حقله د متعې روایت نقل کړے نۀ دے، او بالکل په دې غزا کښې د متعې د ترسره کولو یا د حراموالي په اړه چا خبره نۀ ده کړې.»[1]

او وائي: «په خېبر غزا کښې هډو مسلمانه ښځه نه وه، او که کومې ښځې موجودې وې هغه یهودې وې، او له یهودې ښځو سره د متعې کولو حلالوالے تر هغې ورځې پورې ثابت نه دے، بلکې یوازې د خېبر د فتحې کولو نه پس وو چې خدا ے له هغوي سره وادۀ کول حلال کړل او په سورۀ مائده ایت (**۵**) کښې یې وفرمایل:

﴿ٱلۡيَوۡمَ أُحِلَّ لَكُمُ... وَٱلۡمُحۡصَنَٰتُ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ وَٱلۡمُحۡصَنَٰتُ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ﴾

۱. زاد المعاد، ټوک**۲**، مخ**۱۵۸**، باب: د متعې د حراموالي د وخت بحث.

"نن ورځ تاسو ته ټول پاک ( څيزونه) حلال شول... او د هغو کسانو خواړهٔ چې کتاب ورته ورکړے شوے دے (بې له حلالې شوې غوښې) تاسو ته حلال دي او ستاسو خواړهٔ هغوي ته حلال دي او (حلالې دي ستاسو لپاره) پاک لمنې اصيلې (آزادې) مؤمنانې ښځې او پاک لمنې ښځې له هغو کسانو چې له تاسو وړاندې ورته کتاب ورکړے شوے ؤ په دې شرط چې ورته خپل مهرونه ورکړئ......؛"

او دا حلال والے د پېغمبراکرمﷺ د ژوند په ورستيو کلونو او د «حجة الوداع» نه پس په هماغه کال کښې ؤ. نو يهودو ښځو سره د وادهٔ کولو روا والے، د خيبر د فتح په وخت ثابت نه دے».[1]

ابن حجر د تېر حديث په شرح کښې، د «غزوه خېبر» په حقله وائي: «د فتح خېبر وخت، د متعې «عارضي وادهٔ»

۱. زاد المعاد، ټوک۲، مخ۲۰۴، باب: فی اباحة متعة النساء ثم تحريمها.

ځای نه ؤ. ځکه چې په خېبر غزا کښې هیڅ کومه متعه نۀ ده شوې».[۱]

هغه د همدې حدیث په شرح کښې «په وروستیو کلونو کښې د پېغمبراکرم ﷺ لخوا د متعې د حراموالي په» په باب کښې له سهیلي نقلوي چې هغه وائي: «د دې حدیث یو مشکل دا دے چې وائي: له متعې «عارضي وادۀ» منعې کولو وخت فتح خیبر دے، او دا هغه څیز دے چې هیڅ یو سیرت لیکونکے یا راوي دا خبره په رسمیت نه پېژني.»[۲]

ابن حجر همدا رنګ د ابن قیم وینا چې مخکې تېره شوه ـ نقل کړې ده.[۳]

دا د خیبر د غزا په وخت د متعې د حراموالي په اړه حدیثونه او څېړنه وه.

ب- په خېبر کښې د کورني خرۀ د غوښې حراموالے

۱. فتح الباری، ټوک۹، مخ۲۲.
۲. فتح الباري، ټوک۱۱، مخ۷۲.
۳. فتح الباري، ټوک۱۱، مخ۷۴.

ابن حجر له ابن عباس څخه روايت نقلوي چې هغه به د کورني خرونو د غوښې د حلالوالي لپاره په دې ايت سره استدلال کوۀ:

﴿قُل لَّآ أَجِدُ فِي مَآ أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا﴾؛

"ووايه څه چې په ما وحي شوي هيڅ حرام نه وينم..."[۱]

ليکوال وائي: ممکنه ده چې د کورنيو خرونو د غوښې خوړلو څخه د رسول الله نهي کولو مراد يوازې د خيبر کورني خرونه وي، او دا حکم د څو علتونو په وجه وي چې په لاندينيو حديثونو کښې راغلي دي:

په صحيح بخاري کښې ابی‌اوفي روايت کوي چې وائي: «په غزوه خيبر کښې وږي شوو، په داسې حال کښې چې ديګونه په اور باندې پراتۀ اوخوټېدۀ او غوښه پخېدو ته نزدې وه د رسول الله منادي (وياند) غږ وکړ: «د دې خرونو غوښه ونۀ خورئ او ټوله وغورځوئ.» ابن ابی‌اوفی وائي:

۱. فتح الباري، ټوک۱۲، مخ۷۰، د لحوم الخيل باب.

«مونږ ته وويل شول چې پېغمبر اکرمﷺ د دغو خرونو له غوښې څخه ځکه منعې کړوو چې د دوي خمس نهٔ ؤ ورکړے شوے. ځينو نورو هم ووېل چې: «رسول اللهﷺ ځکه د خرونو د غوښې له خوړلو منعې وکړه چې هغوي به نجس او ککړ څيزونه خوړل(نجاست خوار وو)».[۱]

او همدا رنګ ښائي چې د حراموالي سبب هغه څه وي چې ابو داؤد د خپل سنن په خراج کتاب کښې په «تعشير اهل الذمة» باب کښې له عرباض بن ساريه سلمی[۲] روايت کړے

۱. صحيح بخاري، د لحوم الخيل باب؛ شرح فتح الباري، ټوک۹، مخ۲۲.

۲. ابو نجيح، عرباض بن ساريه سلمی،له هغې لوري ۳۱ حديثونه له رسول اللهﷺ روايت نقل کړے دے. چې د ـ بخاري او مسلم ـ د کتابونو نه بغېر د نورو ټولو صحاحو ليکوالانو دا يو ديرش حديثونه ذکر کړي دي.هغه په ۷۵ هجرى کال کښې يا د زبېر د زوے په فتنې کښې په حق ورسېد په دې حقله مراجعه وکړئ کتاب: اسد الغابه، ټوک۳، مخ۳۹۹؛ جوامع السيره، مخ۲۸۱؛ تقريب التهذيب، ټوک۲، مخ۱۷.

چې هغه ویلي دي چې: «په خېبر کښې راکوز شوو او ټول اصحاب له پېغمبراکرمﷺ سره وو او د خېبر مالک یو سرکښ او بدخویه سړے ؤ رسول اللهﷺ ته یې مخ کړ او ورته یې وویل: «اے محمده! آیا تاسو لره روا ده چې زمونږ خرونه حلال کړئ او زمونږ میوې وخورئ او زمونږ ښځې ووهئ؟» رسول اللهﷺ په قهر شو او ورته یې وفرمایل: «اے د عوف زویه! په خپل اسپ سپور شه او غږ وکړه چې: «خبر شئ زما باغ د هیڅ یو مومن لپاره حلال نۀ دے، او بل دا وو ایه چې ټول د نمانځه لپاره راغونډ شئ.» وائي: «ټول راغونډ شول. پېغمبراکرمﷺ هغوي سره نمونځ تر سره کړ او پس له نمانځه یې وفرمایل: آیا تاسو دا سوچ او فکر کوئ چې پاک الله له هغو څیزونو بغېر چې په قران کښې یې حرام کړي دي بل څه نه دي حرام کړي.؟ آګاه شئ چې تاسو ته مو موعظه وکړه او دومره څیزونه مو حلال یا حرام کړل چې په قران کښې دي یا له هغه هم زیات. خدا ے تاسو ته دا اجازه نه درکوي چې د اهل کتابو (یهودیانو) کورونو ته ننوځئ مګر د هغوي په اجازې سره، او د هغوي د ښځو د وهلو او د میوو د خوړلو حق هم نۀ لرئ او دا حکم تر هغه

پورې ټينګ دے چې تر څو دوي تاسو ته ماليات او ټيکس درکوي.»[1]

د هغه څه په بنياد چې ابن ابی‌اوفي نقل کړي چې د پېغمبراکرمﷺ اصحابو د خېبر په غزا کښې د کورنيو خرونو له غوښې څخه د منعې کولو سببونه او لاملونه بيان کړي دي،او ځينې پکې پخپله د دې واقعې ګواهان هم دي، هغوي ويلي دي چې: «د هغه حضرت د نهي کولو سبب دا ؤ چې د هغو خمس نۀ ؤ ورکړے شوے.» دا خبره هغه روايتونه ـ چې د خيانت او دهوکې په اړه راغلي هم تاييدوي. يا دا علت هم کيدې شي چې پېغمبراکرمﷺ د نورو خلقو د مالونو له لوټلو او غلا کولو څخه منعې کړې وي لکه څنګه چې په لانديني حديث کښې ذکر شوے دے:

په سنن ابي داؤد کښې له يو انصاري نقل کوي چې وائي: «رسول اللهﷺ سره په يو سفر لاړ وو چې خلق ډېر سخت په تکليف کښې وو او سخت محتاج او اړمن شول، څو ګډې

---

۱. سنن ابي داود، ټوک۲، مخ۲۴.

يې پېدا کړې او هغه يې لوټ کړې زمونږ د خوراک ديګونه خوټکېدل چې پېغمبراکرمﷺ په داسې حال کښې چې په لاس کښې يې لينده(کمان) وه راورسېد او خپل کمان (ليندۍ) سره يې زمونږ دېګونه واړول بيايې غوښه خاورو سره ګډه وډه کړه او وې فرمايل: «غلا يا لوټ کړې شوي څيزونه د مردار په څېر دي».[1]

نورو هم (لکه چې تېر شول) وويل: «د کورني خرونو د غوښې حراموالي سبب دا ؤ چې هغو نجاست او ککړ څيزونه خوړل».

همدغه شان د متعې د حراموالي موضوع هم ده څکه چې: عرباض بن ساريه نقل کړ چې هغه بدخويه او سرکش يهودي پېغمبراکرمﷺ ته شکايت وکړ او وې ويل چې: «آيا تاسو لپاره روا ده چې زمونږ خرونه حلال کړئ او زمونږ ميوې وخورئ او زمونږ ښځې ووهئ؟» او رسول اللهﷺ تول راغونډ کړل او هغوي ته يې وفرمايل چې: «تاسو لپاره روا

۱. سنن ابي‌داود، ټوک۳، مخ۲۲، باب (فی النهی عن النهبی).

نۀ ده چې د اهل کتابو (يهوديانو) کورونو ته د هغوي له اجازې بغير ننوځئ. او د هغوي د ښځو د وهلو او د هغوي د ميوو د خوړلو حق هم نه لرئ. دا حکم تر هغه وخته پورې دے چې ترڅو دوي ماليات (ټېکس) او نور کوم حقوق په غاړه لري، هغه ادا کوي.»

په همدې وجه په دې اړه د پېغمبراکرمﷺ نهي کول هم، يوازې د اهل کتابو د ښځو له وهلو څخه نهي کول وو چې هغوي جزيه او ماليات ورکول. او له متعې [عارضي وادۀ] منعې کول نۀ وو.

د خيبر د غزا واقعه همداسې وه لکه چې تېره شوه خو د متعې د حراموالي موافق کس يو روايت جوړ کړے او د هغۀ نسبت يې امام عليؑ ته د هغه د نمسيو له قوله ورکړے دے چې امام عليؑ ابن عباس ته (چې د متعې د روا والي عقيده لرونکے دے) وفرمايل چې: «تۀ يو خود پسند او خودخواه سړے يې»، او هغه ته يې وويل چې پيغمبراکرمﷺ په خيبر غزا کښې له «متعه نساء» [عارضي نکاح] څخه نهي کړې ده، او همدارنګ د کورنيو

خرونو د غوښې له خوړلو څخه هم، د دغه حديث جوړونکي دا خبره هېره شوې وه چې امام علي‌عليه‌السلام هماغه کس دے چې فرمايل يې: «که عمر له متعې منعه نه وې کړي نو بې له بدبخته او شقي کس به بل چا زنا نۀ کوله.»[1]

د حېرانتيا خبره دا ده چې هغۀ دلته د امام علي‌عليه‌السلام د نمسيو له قوله د متعې د حراموالي نسبت هغه حضرت ته ورکړے دے او په همدې سند سره يې يو بل حديث هم جوړ کړے دے او ويلي يې دي چې: «امام علي‌عليه‌السلام حکم ورکړ چې «حج» له «عمرې» جدا او بيل کړئ!» او ښکاري چې د دواړو حديثونو جوړوونکے يو کس وي.

۲. د ابوذرغفاري حديث (يعني دويم حديث) هم همداسې دے چې دوي لکه څنګه مخکښې تير شول له ابوذره روايت نقل کړے دے چې هغۀ ويلي دي چې: «متعه حج يوازې د پېغمبراکرم‌صلی‌الله‌عليه‌وآله سره خاص ؤ او د اصحابو لپاره دا اسانتيا وه (نه د نورو لپاره)» او د «متعه نساء» [عارضي نکاح] په

۱. د دې سرچينې ذکر مو وړاندې کړے دے.

حقله يې هم روايت نقل کړے دے چې: «عارضي نکاح يوازې د پېغمبراکرمﷺ د اصحابو لپاره، درې ورځې حلاله شوه او بيا رسول اللهﷺ له دې نهي وکړه.» او دا چې ابوذر ويلي دي چې: « متعه په دې وجه مونږ لپاره وه چې کله مونږ په خوف يا جنګ کښې وو.»

او د تعجب خبره دا ده چې د ابوذر د دواړو روايتونو په سندونو کښې،ابراهيم تيمي او عبدالرحمن بن اسود نومونه راغلي دي، د دې دوو روايتونو حالت بالکل د هغو دوو حديثونو په څېر دے چې پاس تېر شول او امام علي‌عليه‌السلام ته پکښې نسبت ورکړے شوے دے.

۳ او ۴. د سبره جهني روايت، صحيح هم هغه دے چې د بحث په شروع کښې مو له صحيح مسلم، مسند احمد بن حنبل او سنن بيهقي څخه نقل کړ چې: « د خدا ے ګران رسولﷺ هغوي ته اجازه ورکړه چې متعه وکړي او دا چې هغۀ د بني عامر د قبيلې له يوې ښځې سره متعه وکړه او خپل څادر يې ورته په مهر کښې ورکړ او درې ورځې له هغې سره ؤ، بيا پېغمبراکرمﷺ وفرمايل چې: «دا متعه شوې ښځې (که د متعې موده يې پاتې

وي هم) ازادې کړئ.» يعنې رسول اللهﷺ هغوي ته وفرمايل چې کومو ښځو سره مو متعه کړې ده له هغو جدا شئ او له مکې څخه بهر وتلو ته چمتو او تيار شئ.» څه موده پس «د دويم خليفه د کار سپيناوي کونکو» خپل فعاليت شروع کړ او د حديثونو د عبارتونو په بدلولو يې لاس پورې کړ او: «ليخل سبيلها؛ د هغوي لاره خلاصه پريږدئ» جمله يې په: «انها حرام من يومکم هذا الى يوم القيامة؛ دوي په تاسو له نن ورځې نه تر قيامته حرامې شوې» جملې کښې بدله کړه او داسې نور يې هم بدل کړل چې دا وښئي چې متعه د مکې د فتحې په وخت کښې حرامه شوې ده [نۀ دا چې د دويم خليفه په حکم]. خو چونکه دا روايت له هغو نورو روايتونو سره چې د متعې په حرام والي دلالت کوي، تضاد لري ـ ځينې هغه روايتونه چې په واضحه توګه وائي چې متعه د مکې له فتحې نه مخکې په خيبر غزا کښې حرامه شوې وه او ځينې وائي چې حراموالے او حلالوالے دواړه د مکې له فتحې وروسته وو. چونکه هغوي خپل ځانونه په دې ژمن ګڼي چې دا ټول روايتونه سم او صحيح دي نو دې ته ضرورت لري چې د دې تضاد ختمولو لپاره لاس پښې ووهي نو له همدې امله د پېغمبراکرمﷺ شريعت ته يې د داسې

ځيزونو نسبت ورکړ چې سپېڅلے اسلام له دې ډېر لوړ او مبرا دے، نو دا يې وويل چې: «متعه څو ځله نسخ شوې ده» د دې خبرې تفصيل داسې دے:

## ۱۱- د متعې د حکم، څو ځله نسخ کېدنه

مسلم په خپل صحيح کښې، په دې نوم: «د نکاح متعه باب او دا چې متعه حلاله شوه او بيا نسخ شوه، بيا حلاله شوه، بيا نسخ شوه، او له دې پس يې د نسخ کېدو حکم تر قيامته پورې باقي پاتے شو.» يو عنوان لري.

ابن کثير په خپل تفسير کښې وائي: «شافعي او د عالمانو يوه ډله دا نظر لري چې متعه حلاله شوه او بيا يې حکم نسخ شو بيا حلاله شوه او بيا يې حکم منسوخ شو.»[1]

ابوبکر ابن عربی[2] وائي: د متعې «عارضي وادهٔ» حکم دوه ځله «منسوخ» شو او بيا په بشپړه توګه حرامه شوه.»

---

۱. تفسير ابن کثير، ټوک۱، مخ۴۷۴، د دې ايت «فما استمتعتم به... په تفسير کښې.»
۲. د هغهٔ تفصيلي وينا مخکښې راځي.

زمخشري هم په خپل کتاب کشاف کښې دې ته اشاره کړې ده.[۱]

ځينو نورو ويلي دي چې: «متعه له دوو ځلو نه زياته نسخ شوې ده.»[۲]

د وروستۍ ډلې خبره حق ته نږدې ده ځکه چې د يو حکم د څو ځلې نسخ کېدل که د حديثونو د تضاد د لرې کولو له امله ومنوو نو بايد ووايو چې د متضاد حديثونو د شمير هومره، نسخ هم تکرار شوی دی.(چې دا ډېر زياتېږي او دومره ممکنه نه ده).

نو له دې امله يې هغه بيان سم او صحيح دی چې قرطبي يې د ابوبکرابن عربي د وېنا له نقلولو پس راوړی دی چې هغه وائي: «نور هغه پوهان او عالمان چې د متعې د حديثونو سندونه يې راټول کړي دي وائي: «دا حديثونه

---

۱. تفسير کشاف، ټوک۱، مخ۵۱۹.
۲. ابن رشد د بداية المجتهد، ټوک۲، مخ۲۳ کښې وائي: پينځه ځله تکرار شوي ده.

تقاضا کوي چې د متعې «عارضي وادۀ» حکم به اوۀ ځل حلال او حرام شوے وي. ځکه چې له ابن عمره څخه روایت نقل شوے دے چې د متعې خبره د اسلام په وړومبيو وختونو کښې وه او سلمة بن اکوع روایت کړے دے چې د «اوطاس» د فتحې کال خبره ده او کوم روایتونه چې له علي سره منسوب شوي دي په هغو کښې د فتح خيبر ورځ راغلې ده او روايت ربيع بن سبرة د متعې حليت «حلالوالے» د مکې له فتحې سره تړي. د دې روايتونو ټول سندونه په صحيح مسلم کښې راغلي دي. او له صحيح مسلم او د امام علي عليه السلام له قول نه بغېر روايت کوي چې د متعې نهي په تبوک غزا کښې وه. په سنن ابوداود کښې له ربيع بن سبرة روايت کوي چې هغه، د متعې نهي په حجة الوداع کښې نقلوي، او ابن داود دا وروستے حديث د دې باب ترټولو صحيح روايت ګڼي. او عمرو له حسن روايت کوي چې، له هغه [حجة الوداع] وړاندې او وروسته حلاله شوې نه ده. دا وېنا د سبره له قوله هم نقل شوې ده او هم دا هماغه اوۀ

موردونه دي چې متعه پکې حلاله او بیا حرامه او بیا حلاله او.... شوې ده»[۱]

****

په دا ډول، د خلفاؤ د مکتب پیروکارو په خپلو صحیح کتابونو کښې د روایتونو د سموالي ضرورت دې حد ته ورسوۀ چې ووائي: «د متعې [عارضي وادۀ] حکم په اسلامي شریعت کښې څو ځله نسخ شوے دے.» او په دې حقله د ابن قیم خبره ځومره مناسبه ده چې وائي: «یقیناً دا ډول نسخ په اسلامي شریعت کښې مخینه نه لري او دا ډول نسخ په اسلام کښې ناممکن دے.»[۲]

او په دې اړه د ابوبکرابن عربي خبره څومره ناوړه ده چې وائي: «په دې باب کښې [نسخ مکرر(څو ځله نسخ)] د ناسخ او منسوخ په حکمونو کښې د بشپړه استحکام تر څنګ په خپل ځائے ثابت او ټینګ دے. او دا د دې شریعت له

۱. تفسیر قرطبي، ټوک۵، مخونه ۱۳۰ او ۱۳۱.
۲. زاد المعاد، ټوک۲، مخ۲۰۴.

عجائبو څخه دے چې په دې شريعت کښې «نسخ مکرر(په ځلونو يو حکم منسوخ شي بيا راشي بيا منسوخ شي» واقع شي....»[۱]

مترجم وائي: لکه د ماشومانو د لوبو په شان کله حلاله اوکله حرامه ايا دا شريعت څه لوبه ده؟ نعوذ بالله، بلکې ايا داسې عقيده لرل د خدا ے پاک له شان سره ښائي؟

په دې سربېره، نۀ پوهيږم چې په دې روايتونو کښې حتی يو روايت هم سم او صحيح وګڼو، حال دا چې په «تواتر» او په متواتره توګه له دويم خليفه نه نقل شوي چې هغۀ ويلي دي چې: متعتان کانتا على عهد رسول اللّه صلى‌الله‌عليه‌وآله أنا أنهى عنهما: متعة النساء و متعة الحج؛ دوه متعې د پېغمبراکرمﷺ په زمانه کښې روا وې خو زۀ [اوس] له هغو دواړو څخه نهي کوم او حراموم يې يوه: متعه نساء

۱. شرح ترمذی، ټوک۵، مخ۴۸ ـ ۵۱.

[عارضي نكاح] او بله متعه حج. او په بل عبارت کښې راغلي: «و احرِّمهما؛ او دواړه متعې حراموم.»[۱]

څنګه ممکنه ده چې په دې روايتونو کښې يو صحيح وي حال دا چې په صحيح کښې له جابره نقلوي چې هغه وائي: «مونږ به د پيغمبر اکرمﷺاو ابو بکر او عمر په زمانه کښې متعه کوله؟»

او په بل روايت کښې وائي چې: «مونږ به متعه کوله تر دې چې د عمر د خلافت آخري وخت شو وغيره...»

او په بل روايت کښې وائي: «مونږ به د پيغمبراکرمﷺ او د ابوبکر په زمانه کښې په مهر کښې د لږ شان خرماو

۱. د دې روايتونو سرچينې د معالم المدرستين نومې کتاب د «متعه حج او متعه نساء» د بحث په وړومبيو کښې ذکر شوې دي او هم دا رنګ زاد المعاد، ټوک۲، مخ۲۰۵ ته هم مراجعه وکړئ.

(کجهورو) او اوړو په ورکولو سره، «متعه» کوله ان تر دې چې عمر د عمرو بن حریث د کار په خاطر هغه ممنوع کړه.»[۱]

او دا به څرنګه ممکنه وي چې په پاس ذکر شویو روایتونو کښې دې یو هم صحیح وي او په خپله عمر او صحابیانو یا تابعینو د ابن زبیر تر زمانې پورې هغه نه وي اوریدلے؟ او په دې موده کښې هیڅ یو مسلمان هم له دې خبر شوے نه وي؟ که چرې دا حدیثونه موجود وې نو خامخا به یې عمر له دې خبروۀ او هغه سره به یې استدلال کوۀ حتیٰ د خلافت سرمشریزې کمیټې. به د ابن زبیر د خلافت تر وخته پورې دا خپرول او ورسره به یې استناد کوۀ مخصوصا هغه وخت به یې ورسره ضرور استدلال کوۀ کله چې د متعې د تحریم مخالفان لکه ابن عباس او جابر او ابن مسعود او داسې نورو کسانو د پیغمبراکرمﷺ سنت سره هغوي ته ځواب ورکوۀ او هغو یې محکومول، او نور کسان به یې په دې

۱. د دې روایتونو سرچینې د «له متعې څخه د عمر د تحریموالې اسباب» په بحث کښې تیرې شوې.

سنت ګواهان ګرځول لکه اسماء د ابن زبير مور حتیٰ امام علي‌علیه‌السلام او ابن عباس به په ډاګه ويل چې: «که عمر له متعې «عارضي وادۀ» نهی نۀ وې کړې نو بې له بدبخته او شقي نه بل چا به زنا نۀ کوله.» او هيچا هم ونۀ ويل چې رسول د خدا ے صلی‌الله‌علیه‌وآله له دې نهی کړې ده.

هو، دومره منوو چې دا حديثونه په ښۀ نيت سره جوړ کړې شوي دي او هغه دا چې د دويم خليفه موقف تائيدکړي او په هغۀ باندې د شويو اعتراضونو او نيوکو مخنيوي وکړي. بالکل هماغه شان لکه چې د حج له عمرې جدائی او يوازې حج تر سره کولو لپاره د حديثونو جوړول هم په ښۀ نيت سره او له اعتراضونو څخه د مخنيوي په هدف سره جوړ کړې شوي دي. او دا بالکل د هغو حديثونو په شان دي چې د قران د سورتونو د تلاوت د فضيلت لپاره، په ښۀ نيت او د ثواب حاصلولو په هدف جوړ کړې شوي دي!

حافظ نووي په خپل تقريب[۱] کښې وائي: «د حديثونو جوړونکي، څو ډلې لري چې پکې له ټولو خطرناکه او تاوان رسوونکې ډله هغه ده چې په ظاهره توګه زاهدان، عابدان او تارک دنيا دي او د هغوي د حديثونو جوړول هم د ثواب او خير خواهي لپاره دي او خلق هم د هغوي حديثونه، په هغوي باندې د باور او اعتماد په وجه قبلوي.»

نووي د تقريب په شرح کښې وائي: «له هغو حديثونو چې د خيرخواهۍ او ثواب په نيت جوړشوي يو روايت دا دے چې وائي: حاکم په خپل سند سره له ابو عمار مروزي نقلوي چې، ابو عصمت، نوح بن ابي‌مريم ته وويل شول» تا څرنګه د عکرمه له قوله له ابن عباس د يو يو سورت د فضيلت په حقله دومره زيات روايتونه تر لاسه کړي دي، حال دا چې داسې هيڅ يو حديث هم د عکرمه له ملګرو سره نشته؟» هغۀ وويل: «ما وليدل چې خلقو د قران له تلاوته مخ اړولے دے او د ابو حنيفه او مغازي او ابن اسحاق فقهي ته يې

۱. تقريب النووى، د نباغلي حافظ محى‌الدين نووي کتاب دے.

مخه کړې ده نو په دې خاطر مې دا حدیثونه د ثواب حاصلولو لپاره جوړ کړل...»[۱]

له «متعه حج او متعه نساء» څخه د دویم خلیفه د نهي کولو د موقف په تائید کښې جوړ شوي حدیثونه هم همداسې دي، په تېره بیا هغه حدیثونه چې له پېغمبراکرمﷺ څخه د متعې د نهي کولو په حقله نقل شوي دي چې زمونږ په نظر، د ابن زبېر له زمانې نه پس او د حدیث له کتابت څخه وړاندې جوړ کړې شوي دي، یعنی دغه حدیثونه د وړومبۍ پېړۍ په آخر کښې او د دویمې پېړۍ په وړومبیو وختونو کښې د دویم خلیفه د کار د سپیناوي په هدف جوړ کړې شوي دي.

هو، په هغوی کښې یو کس داسې حدیث جوړ کړ او وې ویل: «رسول اللهﷺ په خیبر غزا کښې له «متعه نساء» [له ښځو سره عارضي نکاح] نهی وکړه.» او بل وویل چې: «پېغمبر اکرمﷺ د عمرې په قضیه کښې متعه حلاله او

۱. تدریب الراوي في شرح نووي، سیوطي، ټوک۱، مخ۲۸۲.

بیا حرامه کړه.» او دریم وویل چې: «دا حکم «د مکې د فتحې په وخت » کښې ؤ.» او څلورم وویل چې: «د فتح «اوطاس» په کال کښې ؤ.» او پینځم وویل چې: «په غزوه تبوك کښې ؤ.» او شپږم کس وویل چې: «په حجه الوداع کښې ؤ.»[۱]

نو دا ډول، په هغوي کښې هر یو غواړي چې ووائي چې د متعې: «حلیت او حُرمَت، په خاص زمان او مکان کښې سره یو ځاے د پېغمبراکرمﷺ په زمانه کښې پېښ شوے دے، نو ځکه دویم خلیفه هم حرامه کړې ده.»

هو، دا حدیثونه یو بل سره تضاد لري او د خلفاؤ د مکتب پوهان د دې تضاد په لرې کولو پسې دي، خو د اسلامي شریعت له نیمګرتیا نه بغېر بل څه عذر یې ونۀ موند، نو دا یې هم (نعوذباالله) په پېغمبراکرمﷺ پورې وتړل، که څه هم، محمدي شریعت پورې یې دا تړلي وو خو بیا یې هم له

۱. ابن حجر په فتح الباري، ټوک۱۱، مخ۷۳، کښې، په دې ډول پرله پسې ذکر کړې دي.

هغهٔ سره تمسک وکړ او وې ویل چې: «دا حکم دوه ځله حلال او دوه ځله نسخ شوے دے.» او وې ویل چې: «حلالېدنه او نسخ کېدنه له دې هم زیاته وه او اووه ځله تکرار شوې ده!»

هغوي د دغه ډول حدیثونو سموالے د ځانونو لپاره لازمي ګڼهٔ او په خپلودغو ویناوو یې تاکیدکوهٔ، خو د اسلام سپکاوي او توهین ته یې هیڅ پام نه کوهٔ!

د خلفاؤ د مکتب عالمانو د دغو حدیثونو په وسیله، د متعې د حراموالي له تائیدولو څخه ډیرې ګټې تر لاسه کړې دي. لکه هغه څه چې د یحییٰ بن اکثم[1] او مامون تر مینځ د

۱. ابو محمد، یحیی بن اکثم مروزی، د اکثم بن صیفي اسدي زوي ؤ چې متوکل هغه ته د «قاضی القضات» منصب او مقام ورکړ او د اسلامي هیواد د چارو اداره کول یې ورسپارلي وو هغه ته د لوط د قوم د بد عمل (بچه بازي) نسبت ورکړے شوے دے او یو شاعر د هغه په حقله ویلي دي چې: متی تصلح الدنیا و یصلح أهلها و قاضی القضات المسلمین یلوط ترجمه: نړۍ او نړیوال به کله اصلاح او سم شي حال دا چې د مسلمانانو د

هجرت د دريمې پيړۍ په وړومبيو وختونو کښې تير شوي وو او ابن خلکان هغه د محمد بن منصور له قوله ـ په دا ډول نقل کړي دي، وائي: مونږ عباسي خليفه مامون سره د شام په لاره روان وو چې هغهٔ حکم وکړ چې غږ وکړئ چې متعه حلاله ده، يحيى ابن اکثم ما ته او ابو العيناء ته وويل چې سحر وختي مامون ته ورشئ که د خبرو کولو فرصت درته ؤ خو خبره ورته وکړئ او که فرصت نهٔ ؤ نو غلي شئ چې زهٔ درشم، وائي مامون ته ورغلو ومو ليدل چې مسواک کوي او په غصې سره وائي: دوه ډول متعې د پېغمبراکرمﷺ او ابو بکر په زمانه کښې تر سره کيدې او زهٔ له دواړوڅخه نهي او منعې کوم! اے نهي کوونکيه: تهٔ څوک يې، چې له

---

قاضيانو مشر لواط (بچه بازي) کوي او بل کس د هغهٔ په حقله ويلي دي چې داسې قاضي ؤ چې زنا (ښځې سره زنا) يې د حد د اجرا لامل بلله خو لواط (بچه بازي) د هغه په نزد گناه هم نه وه هغه په ۱۴۲ هجری کال کښې مړ شو. وفيات الأعيان، ټوک۵، مخونه ۱۹۷ـ۲۱۳.

هغه څه نهي وکړې چې پېغمبراکرمﷺ او ابوبکر تر سره کول.؟

ابو العیناء ماته (محمد بن منصور ته) اشاره وکړه او وې ویل چې: څوک چې د عمر بن خطاب په حقله داسې وائي نو مونږ به څنګه هغه سره خبرې کوو؟ وائي مونږ صبر وکړ چې یحیی ابن اکثم راغے کښېناست او مونږ هم ورسره کښیناستېدو.

مامون یحییٰ ته وویل: ((څه چل دے داسې ګڼه وېږ دې وینم؟))

یحییٰ وویل: دا خفګان مې د هغې پېښې په وجه دے چې په اسلام کښې رامنځته شوې ده!

مامون وویل: کومه پېښه؟

یحییٰ وویل: د زنا د حلالوالي غږ (چې پرون شپه تا حکم وکړ).

مامون وپوښتل: زنا!؟

یحییٰ وویل: هو، متعه (عارضي وادهٔ) هماغه زنا ده.

مامون وویل: دا چا ویلي دي (دا له کومې سرچینې وائې)؟

یحییٰ وویل: د خدا ے له کتابه او د پېغمبراکرمﷺ له حدیثه، خدا ے پاک فرمایلي دي چې:

﴿قَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ الی قوله... وَٱلَّذِینَ هُمۡ لِفُرُوجِهِمۡ حَـٰفِظُونَ ۝ إِلَّا عَلَىٰٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَیۡمَـٰنُهُمۡ فَإِنَّهُمۡ غَیۡرُ مَلُومِینَ ۝ فَمَنِ ٱبۡتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ فَأُو۟لَـٰۤئِكَ هُمُ ٱلۡعَادُونَ﴾[1]

ترجمه: "بېشکه مؤمنان کامیاب شول ـ تر دې ایت پورې ـ هغه مومنان! چې خپلې لمنې (شرمګاه) له ککړتیا ساتونکي دي!)» یوازې خپلو ښځو او وینځو سره کوروالے کوي چې په دې کښې په هغوي هیڅ کوم ملامت نیشته، نو څوک چې له دې بغېر (له خپلو ښځو نه بغېر) خواهش ولري

---

۱. سوره مومنون: ۱ تر ۷.

نو داسې کسان له حده تیریدونکي او تیري ګر دي!".[۱]

بیا یې وویل: اے امیرالمومنینه! ایا سړے د متعې د ښځې مالک جوړیږي (یعني هغه د کنیزې او وینځې په شان وي)؟ مامون وویل: نه، یحییٰ وویل: ایا د متعې ښځې ته ارث رسیږي یا له هغې بل څوک ارث اخلي او اولاد یې هغهٔ سره تړلې کیږي یا د اولاد کوم شرطونه لري؟ مامون وویل: نه، یحییٰ وویل: نو څوک چې د دایم وادهٔ او د خپلې کنیزې (وینځې) له حدودو تیر شي په رښتیا چې تیري ګر دے.

بیا یې وویل: اے امیر المومنین! دا زهري دے چې د محمد بن حنفیه له دوو زامنو عبدالله او حسن یې او هغوي له خپل پلاره او هغه له علي بن ابي طالب روایت نقل کړے دے چې وې ویل: پیغمبر اکرمﷺ ما (علي) ته حکم راکړ چې په اوچت اواز او غږ سره د متعې د ممنوعیت او حراموالي

۱. مخکښې تیر شول چې په مکتب اهلبیت کښې د متعې او د وادهٔ اولاد تر مینځ هیڅ فرق نشته.

اعلان وکړه او دا له هغه وخت نه پس وو چې د متعې د کولو حکم يې کړے ؤ.

مامون مونږ (منصور او ابو العيناء) ته مخ کړ او وې ويل: له زهري دا حديث، يقيني او صحيح دے؟ هو، يا اميرالمومنان! څو کسانو لکه مالک هغه نقل کړے دے. مامون وويل: استغفرالله ـ له خدايه بخښنه غواړم ـ اعلان وکړئ چې متعه حرامه ده او همدغه شان يې وکړ.

ابو اسحاق او مالکي مذهب فقيه، اسماعيل بن حماد بن زيد يوه ورځ د يحيى ابن اکثم ذکر وکړ او د هغه مقام او شان يې ډير لوړ بيان کړ او وې ويل: هغه په اسلام کښې داسې وخت تېر کړ چې بل هيچا داسې وخت نۀ دے تېر کړے او همدا ورځ يې ياد کړه (چې مامون سره يې بحث کړے ؤ)[1]

---

۱. وفيات الأعيان، ټوک۵، مخونه ۱۹۹ او ۲۰۰، خپرندويه مکتبه النهضه المصريه، چاپخانه مکتبه السعاده ميلادي کال ۱۹۴۹.

****

هو ، د مکتب خلفاء عالمان د بحث او مناظرې په وخت دې په حديث سره استدلال کوي خوکله چې د دويم خليفه پرېکنده وېنا سره مخ شي نو بيا هغه هم مني، چې هو! هغه ويلي دي چې: «د پېغمبراکرمﷺ په زمانه کښې دوه متعې کېدې او زۀ له هغو دواړو نهي کوم او حرامې يې اعلانوم او د هغو کوونکو ته به سزا ورکوم» او بيا وائې چې خليفه صيب اجتهاد کړے دے!!! له همدې امله که څه هم خدا ے تعالىٰ فرمايلي او د هغۀ ګران رسول حضرت محمد مصطفىﷺ فرمايلي دي خو بيا هم، دويم خليفه «د هغوي په مقابل کښې هم» اجتهاد کوي!.[1]

﴿والحمدُ لله رَبّ اللعالَمِينْ﴾

---

۱. د ابن ابي الحديد معتزلي د نهج البلاغې شرحې، ټوک۳، مخ۲۲۳ ته مراجعه وکړئ.